# د خبرو اترو لار

محمد عارف لودين

## فهرست


سريزه ........................................ 2

حوار او جدال ........................................ 3

قران کريم او خبرې اترې: ........................................ 3

زموږ خوږ پيغمبر او خبرې اترې: ........................................ 4

په اختلاف اعتراف: ........................................ 7

مسلمان د حق پلټونکی دی: ........................................ 9

ريښت: ........................................ 10

مناسب ظروف: ........................................ 12

پوهه: ........................................ 13

ټول خلک يو ډول ندي: ........................................ 14

د خلکو وخت مه ضايع کوه: ........................................ 14

ښه اوريدل: ........................................ 15

ځانته پاملرنه: ........................................ 16

بيان: ........................................ 17

متلونه او مثالونه: ........................................ 18

ګډ ټکي : ........................................ 18

د بحث ټول او پای ته رسول: ........................................ 19

نه پوهيږم: ........................................ 19

تعصب مه کوه، خپله غلطي ومنه: ........................................ 20

امانت او توثيق: ........................................ 21

د مقابل لوري درناوی: ........................................ 22

نظر او د نظر خاوند: ........................................ 23

هغه څه چې غوره دي: ........................................ 24

چلنج او چوپ کول: ........................................ 25

مخالفت او مينه: ........................................ 28

پايلې ته رسيدل: ........................................ 28

غوسه مه کوه: ........................................ 28

له قناعت وروسته هم مخالفت: ........................................ 29

کله چې دلايل بې اغيزې شي: ........................................ 30

غږ مه لوړوه: ........................................ 30

**سریزه**

د نېکۍ او ښېګړې د خپرولو لپاره که څه هم ګڼ شمېر وسایل شته خو خبرې اترې او مباحثه پدې وسایلو کې لومړی مقام لري، د دعوت په خپرولو او د هغې څخه د دفاع پر مهال خبرې اترې او مناقشه کول د مومن سړي لومړی وسله ده ، څومره چې دعوتګر په مباحثې او خبرواترو کې غښتلی او ښه پوه وي هومره به زیات بریالی وي.

دعوتګر باید د خبرواترو او مناقشې هنر ښه زده کړي او خپلې خبرې ددې فن په معیارونو او بنسټونو برابرې کړي.

په اوسنۍ زمانه کې د (عامه اړیکو ) په نوم ځانګړې مسلکې زده کړې رامنځته شوي او خلک ورسره اشنا دي چې دغه هنر (عامه اړېکې) زمونږ د موضوع سره کلک تړاو لري، د عامه اړیکو علم او هنر د یو لړ ا دارو په جوړولو او یو شمېر نورو ځانګړو وسیلو په مرسته همدا کوي چې د خلکو سره ښې اړېکې ټینګې کړي او هغوی بې خپلو خبرو قانع کړي.

که څه هم د (عامه اړیکو) فن په یوې نوې بڼه راښکاره شوی خو که موږ په خپل اسلامي او علمي میراث کې ګوتې ووهو نو ددې فن ډېر مواد او بنسټونه به په لاس راشي او که چیري یو هوښیار پلټونکی دغه مواد راټول او ترتیب کړي او هم د نورې نړۍ تجربې ورسره یوځای کړي نو یو خورا ګټور کتاب به ترې جوړ شي.

د خبرواترو او مناقشې هنر ته باید په ټیټه سترګه ونه ګورو، ډېر ځلې د یوه ضعیفه او کمزروي مدافع وکیل له امله حق ضایع کیږي او باطل میدان ګټي او هم ډېر ځلې د وکیل د قوت او پیاوړتیا له برکته ضعیفه او ناسمه خبره خلکو ته سمه او حق ښکاره شي.

همدې ټکو ته په پام سره دغه بحث ولیکل شو تر څو عام مسلمانان او په ځانګړې توګه ځوانان او دعوتګران ورڅخه ګټه واخلي.

**حوار او جدال**

بې ګټې به نه وي که لومړی د (حوار) او (جدال) ټکو تر منځ داسې توپیر وکړو چې د هر یوه مانا څرګنده شي.
که څه هم د « حوار » او « جدال » دواړو ټکو مانا د دوو کسو تر منځ خبرې کول دي خو دا ټکي د جلا ماناګانو لپاره کارول کیږي . په ټولیز ډول جدال هغه خبرو اترو ته ویل کیږي چې طرف نیول او دښمني څرګندوي، د جدال، مجادله او جدل ټکي هم دېته ورته دي او د هغو خبرو اترو لپاره په کار وړل کیږی چې پر دښمنۍ، تعصب او له خپلې خبرې څخه په نه تېرېدلو ولاړې وي.
خو حوار بیا هغو خبرو اترو ته ویل کیږي چې د دښمنۍ او تعصب پرته په دوستانه فضا کې د دوو یا څو کسانو تر منځ تبادله کیږي.
قران کریم هم دا څرګندوي، موږ وینو چې قران کریم زیاتره د جدال ټکی د هغو خبرو اترو لپاره کاروي چې بې ګټې او بې خونده وي لکه په لاندې آیتونو کې : (وجادلوا بالباطل لیدحضوا به الحق ) ژباړه: او هغوی په باطل سره جګړې کوي چې حق ورباندې له منځه یوسی.
د حج سورت په اتم آیت کې الله پاک فرمایي : (وَمِنَ النَّاسِ مَن يُجَادِلُ فِي اللَّهِ بِغَيْرِ عِلْمٍ وَلَا هُدًى وَلَا كِتَابٍ مُّنِيرٍ) د حج سورت اتم آیت. ژباړه: ځینې خلک د الله په هکله پرته له دې چې پوهه، هدایت او روښنایي ورکوونکی کتاب ورسره وي شخړې او جګړې کوي.
د جدال ټکی په قران کریم کې نهه ویشت ځلې راغلی چې نږدې ټول یې د هغو خبرو اترو یادوونه ده چې بې ګټې او بې خونده دي.
خو د محاورې ټکی په قران کریم کې درې ځایه راغلی چې د دوستانه خبرو اترو لپاره په کار وړل شوی. که څه هم د حوار ټکی په قران کې لږ استعمال شوی خو دېته ورته ټکي ډېر په کارول شوي لکه د « قال » ټکی چې په قران کې (۵۲۷) ځلې راغلی.

**قران کریم او خبرې اترې:**

قران کریم چې څومره ډېرکو او خبرو اترو ټینګار کړی له چا پټ ندی، قناعت د ایمان بنسټ او داسې څیز دی چې له بهر څخه په زور د انسان زړه ته نه ننویستل کیږي بلکې د انسان په داخل کې زرغونیږي او د خلکو د قناعت لاس ته راوړلو لپاره غوره لار خبرې اترې دي.
قران موږ ته د خبرو اترو ډېرې بېلګې وړاندې کړي، لکه د الله پاک او ملایکو تر منځ د ادم د پیدایښت په هکله خبرې اترې، د الله پاک او ابراهیم علیه السلم تر منځ د مړو د ژوندي کولو په اړه خبرې اترې، د الله پاک د لیدلو لپاره د موسی علیه

السلام او الله پاک تر منځ خبرې اترې چې ، د الله پاک او عیسی علیه السلام تر منځ خبرې اترې، په سورت کهف کې د باغونو د څښتنانو تر منځ خبرې اترې، د قارون او قوم خبرې یې، د اسمعیل علیه السلام د قربانۍ پر مهال د هغه او ابراهیم علیه السلام خبرې اترې، د نوح او شعیب علیهما السلام او د هغوی د قومونو ترمنځ خبرې او نورې ډېرې د خبرو او مرکو کیسې چې د خبرو اترو ارزښت په ګوته کوي.
ددې بېلګو د یادولو څخه دا جوتیږي چې قران کریم د حقایقو په بربنډولو، د ضمیر په راویښولو، د دریځونو په ډاګه کولو اود دلایلو په وړاندې کولو کې خبرو اترو ته څومره ارزښت ورکړی.
دا هم روښانه ده چې دې ډول خبرو اترو د انسانانو پر ذهنونو او زړونو څومره اغېز کړی، پدې هکله د یادولو وړ ډېرې کیسې شته چې د ځای د تنګوالي له امله ورڅخه تیریږو.

**زموږ خوږ پیغمبر او خبرې اترې:**

د پیغمبر علیه السلام په سپیڅلي ژوند کې د خبرو اترو زیاتې بېلګې شته چې موږ ورڅخه ډېره ګټه پورته کولای شو، د مثال په توګه:
کله چې پیغمبر علیه السلام د پټ دعوت له مرحلې څخه راووت او د اسلام بلنه یې په ښکاره ډول پیل کړه نو قریش پدې کار سخت په غوسه شول او د ډېر فکر او سوچ وروسته یې عتبه بن ربیعه د خبرو لپاره پیغمبر علیه السلام ته واستاوه، عتبه بن ربیعه پیغمبر ته راغلو او ویې ویل:
ای وراره! زموږ په قوم او نسب کې چې ستا کوم لوړ مقام دی ته پر هغې پوه یې خو تا خپل قوم ته داسې یوه مسله راوړې چې د هغوی یووالی دې پرې له منځه وړی، د هغوی مشران دې سپک کړي، د هغوی خدایانو ته دې بد ویلي او د هغوی پلرونه دې کافر ګڼلي. نن‌زما خبره واوره، زه تاته څو وړاندیزونه کوم ښایي ځنې یې ته ومنې.
پیغمبر علیه السلام وفرمایل: ابوالولیده! ووایه زه یې اورم.
عتبه خپلې خبرې وکړې او کله یې چې خبرې بس کړې نو پیغمبر علیه السلام ورته وفرمایل: ابوالولیده! آیا خبرې دې پای ته ورسېدې؟
هغه وویل: هوکې.
خوږ پیغمبر ورته وویل: اوس زما خبرې واوره.
عتبه وویل: سمه ده.
پیغمبر علیه السلام ورته‌د فصلت سورت په لوستلو پیل وکړ، کله چې د سجدې آیت ته ورسېد سجده یې وکړه او بیا یې عتبه ته وویل: تا زما لوست واورېد، ته پوهیږې او دا لوست.
عتبه پاڅېدو او خپلو ملګرو ته ولاړ. هغوی وویل: په الله سوګند چې ابوالولید داسې نوی فکر له ځان سره راوړ چې له دیخوا ورسره نه و . عتبه د خپلو ملګرو څخه غوښتنه وکړه چې نور پیغمبر خپل کار ته پریږدي خو هغوی ونه منله او عتبه ته یې وویل: د پیغمبر ژبې پر تا جادو کړی.

پدې کیسه کې زموږ د موضوع اړوند ډېر درسونه شته او غوره به دا وي چې لږ ورسره تم شو.
پدې کیسه کې وینو چې پیغمبر علیه السلام لومړی په ښه توګه د عتبه خبرو ته غوږ کېښود او بیا یې ورته وویل: ابوالولیده! آیا خبرې دې خلاصې شوې؟ یانې د نورو خبرو کولو فرصت یې هم ورکړ تر څو کومه خبره یې له یاده نه وی وتلي او دا باور یې پوخ کړ چې عتبه خپلې ټولې خبرې اورولي دی ، تر دې وروسته یې هغه ته خپله بلنه وړاندې کړه.
دا د ادب هغه لوړه بېلګه وه چې د مقابل لوري سینه یې د پیغمبر د خبرو اورېدو ته پرانسته، تر دې وروسته یې د قران کریم هغه آیتونه چې د حکمت سرچینه ده د سجدې په آیت پای ته ورسول، د عاجزۍ سجده یې وکړه او بیا یې عتبه ته داسې وویل: تا زما تلاوت واورید اوس ته پوهیږې او دا آیتونه.
د پیغمبر علیه السلام د ښه غوږ نیولو او ښه اورولو لوړ ادب عتبه هم دېته اړ کړ چې په غور د پیغمبر علیه السلام خبرو ته غوږ ونیسي. ددې لوړو اخلاقو وروسته نو د هغه د ملګرو دا خبره د حیرانتیا وړ نه ده چې ویل یې : ابوالولیده! د پیغمبر ژبې پر تا جادو کړی.
د حنین دغزا په پای کې چې کومه پېښه رامنځته شوه او پیغمبر علیه السلام پکې کوم دریځ غوره کړ ددې وړ دی چې لږ ورسره پاتې شو او پند ترې واخلو، هغه پېښه داسې وه.
د حنین د غزا په پای کې د اسلام پیغمبر ولجې (غنیمتونه) چې خورا ډېر و پر قریشو او عربي قومونو ووېشل خو انصارو ته یې هیڅ ورنکړل ځکه نو ځنې انصار په غوسه شول او کوم یوه یې دا هم وویل: والله چې پیغمبر خپل قوم سره وکړه.
سعد بن عباده پیغمبر ته ورغی او ویې ویل: ای د خدای رسوله ! تا چې کوم وېش وکړ د انصارو یوه ډله د هغې په هکله په زړه کې څه خیری لري، تا غنیمت پر خپل قوم ووېشه او هم دې نورو قومونو ته لوی بخښښونه ورکړل خو د انصارو دې ډلې ته دې هیڅ ورنکړل.
خوږ پیغمبر هغه ته وفرمایل: ته پدې هکله څه دریځ لرې. سعد وویل: زه هم د خپل قوم یو سړی یم. پیغمبر علیه السلام وفرمایل: خپل قوم دې پدې میدان کې راټول کړه. سعد راووت او انصار یې راغونډ کړل. پیغمبر هلته تشریف راوړ او د حمد او ثنا وروسته یې وفرمایل: ای د انصارو ټولیه! ستاسو په زړونو کې چې زما په هکله څه پیدا شوي او ما ته رارسېدلي ، دا څه دي؟ کله چې زه تاسو ته راغلم آیا تاسو بې لارې نه وی چې بیا خدای تاسو ته هدایت وکړ؟ آیا تاسو بې وزله نه وی چې بیا الله پاک شتمن کړئ؟ آیا تاسو یخپلو کې دښمنان نه وي چې بیا الله ستاسو په زړونو کې مینه بیدا کړه؟ هغوی وویل: هوکي همداسې ده. بیا پیغمبر وویل : ما ته ولې ځواب نه راکوئ ای د انصارو ټولیه ! هغوی وویل : موږ څه ځواب درکړو؟ خدای او د هغه رسول د نیکۍ څښتنان دي. پیغمبر وفرمایل : په الله قسم که تاسو خوښ وکړي ریښتیا به ووایې او تاسو به ریښتوني وګڼل شي، تاسو ریښتیا وویل چې زه تاسو ته پداسې حال کې راغلم چې خلکو زه درواغژن ګڼلم خو تاسو زه

رېښتونی وشمېرلم، خلکو زه م ات کړی وم تاسو راسره مرسته وکړه، خلکو زه شړلی وم تاسو ځای راکړ، زه بېوزله وم تاسو شتمني راکړه آیا تاسو پدې اندېښمن یاستئ چې ما خلکو ته د دنیا څه شیان ورکړل تر څو د اسلام سره ئې مینه پیدا شي او تاسو مې ستاسو ایمان ته پرېښوولي ؟ ای د انصارو ټولیه! آیا تاسو پر دې خوښ نه یاست چې خلک ګډې او بېزې یوسي او تاسو د خدای پیغمبر له ځان سره کورته بوځي، قسم په خدای که هجرت نه وای زه به د انصارو څخه یو سړی وم او که ټول خلک یوه لار غوره کړي او انصار بله، زه به د انصارو سره لاړ شم، خدایه پر انصارو رحم وکړې! خدایه د انصارو پر بچو رحم وکړې! خدایه د انصارو پر لمسو رحم وکړې!

د پیغمبر علیه السلام پدې خبرو خلکو دومره وژړل چې ږیرې یې لمدې شوې او ویل یې: موږ خوښ یو چې پیغمبر زموږ په برخه ورسېد.

پدې بېښنه کې خورا لوړ او ګټور درسو نه دي چې باید فکر پرې وشي. پدې کیسه کې وینو چې نه خو پیغمبر حضرت سعد پ ر دې ملامته کړ چې ولې یې قهرېدلو انصاروته ځواب ندی و یلی او نه یې د هغه د ناسم دلیل پ ه هکله ورسره جنجال وکړ، ان تر دې چې د هغه سړي په هکله یې هم پ وښتنه ونکړه چې و یلی یې و (والله چې پیغمبر د خپل قوم سره وکړه او قومیت یې وپاله) بلکې عامه پوښتنه یې وکړه تر څو ټول خلک بکې داخل او شخړه له بېخه حل شي.

همدا راز وینو چې پیغمبر علیه السلام پخپلو خبرو کې لومړی په انصارو کې د خپرې شو ې ګونګوسې له امله ګوتنیونه وکړه ، بیا یې پ ر هغوی باندې د هغې پیرزوینې یادونه وکړه چې الله پاک د بې لارۍ څخه هدایت، د بېوزلۍ څخه شتمنتوب او د دښمنۍ څخه مینې او محبت ته راستانه کړي و.

ښکاره ده چې پدې وخت کې به د انصارو په زړونو کې هغې ښېګړې ګرځېدلې چې دوی لرلې لکه د پیغمبر مرسته او ځای ورکول ځکه نو پیغمبر د هغوی ښېګړې یوه یوه رایادې کړې او پر هغې یې اعتراف وکړ . کله یې چې انصار له یوې خوا ملامته او له بل پلوه خوشاله کړل نو بیا ئې ورته په څرګنده وویل چې هغوی په اسلام کې خورا لوړ مقام لري ځکه یې نو هغوی خپل اسلام ته وسپارل او په پای کې یې دا لوړ فضیلت و رپوزو کړ چې خلک به ګډې او بیزې کور ته یوسی خو انصار به د ځان سره د خدای رسول او د نړۍ سردار خپلو کورونو ته یوسي او د هغو بچو او لمسو ته یې دعا وکړه، بیا نو دا د حیرانتیا خبره نه وه چې انصارو د ډېرې خوشالۍ نه اوښکې تویولې او په ویاړ یې ویل : موږ پر دې خوش ئ چې زموږ په برخه بېغمبر ورسیږي.

همدا راز یوه یهودي زید بن سعنه چې پر پیغمبر یې کجورې پ لورلې او د پیسو لپاره یې نېټه ټاکلې وه غوښتل یې د پیغمبر د دعوت رېښتینولي معلومه کړي نو د نېټې له پوره کېدو مخکې راغی او د خلکو پر وړاندې یې د پیغمبر علیه السلام څخه په ډېره توندہ لهجه خپلې پیسې وغوښتې او ویې وئ: تاسو د عبدالمطلب ځامن د چا پور په وخت نه ورکوئ. عمر رضی الله عنه یې د وهلو هوډ وکړ خو پیغمبر علیه السلام منع کړ او عمر ته یې وفرمایل : ای عمره! تا چې کوم هوډ وکړ ما او یهودي هغې ته نه بلکې یوه بل څه ته اړتیا درلو ده او هغه د ا چې ماته دې په ښه

توګه د پور ادا کولو سپارښتنه کړی وای او هغه ته دې د پور د غوښتلو سمه لار وربښوولای وای. بیا پیغمبر علیه السلام امر وکړ چې یهودي ته یې پور ورکړئ او د عمر رضی الله عنه د هوډ په مقابل کې ورته شل صاعه اضافه هم ورکړ ئ.
یهودي ددې حالت په لیدلو سره نور ټینګ نشو او د مسلمانېدو اعلان یې وکړ.
د خوږ پیغمبر په مبارک ژوند کې د خبرو اترو، مقابل لوري ته د ورین تندي او خبرې اورېدلو غوره بېلګې شته چې پورتنۍ مو د مشت نمونه خروار په توګه یادې کړې.

**په اختلاف اعتراف:**

د الله د حکمت غوښتنه ده چې خلک دې په لویو او وړو، دیني او دنیوي مسلو کې اختلاف وکړي، ددې لامل دا دی چې څنګه چې انسانان په مزاج ، طبیعت او میلان کې له یو بل سره توپیر لري همداسې په پوهه، علم، توان ، صبر او عمل کې هم سره توپیر لري.
په دیني مسایلو کې د اختلاف لامل دا دی چې د قران او سنت د احکامو یو شمېر دلایل او نصوص ظنی الدلاله دي یانې د یوې څخه د زیاتو ماناګانو احتمال لري او بیا چې په علم او پوهه کې د انساني عقلونو توپیر هم ورسره مل شي نو ښکاره ده چې د نظر اختلاف منځته راځي خو دا اختلاف د دین په اساساتو او بنیادي څیزونو لکه د ایمان او اسلام پر ارکانو کې ندي ځکه په اساساتو کې د اختلاف ځای نشته ، که چېرې د قران او سنت ټول دلایل قطعي وای ، د دوهم نظر لپاره پکې ځای نه وای او د انساني عقلونو تر منځ هم په پوهه او درک کې توپیر ن ه وای نو بیا به اختلاف نه و خو پـه واقع کې داسې نده او اختلاف موجود دی، الب ته د نظرونو اختلاف باید د زړونو پر اختلاف بدل نشي ځکه د زړونو اختلاف حرام او د
مسلمان ایمان ته ګواښ دی، پیغمبر علیه السلام فرمایي: لاتدخلوا الجنه حتی تؤمنوا، ولاتؤمنوا حتی تحابوا. ژباړه: ټاسو به جنت ته تر هغې داخل نشي څو چې مؤمنان نشي، او تر هغې به پوره مومنان نشي څو چې پر خپلو منځونو کې محبت ونکړئ.
نو د جنت لپاره ایمان شرط دی او د کامل ایمان لپاره پخپلو منځونو کې محبت کول شرط دی.
راځي د شرعي نصوصو او دلایلو په رڼا کې د اختلاف څو بېلګو ته غوږ شو چې غوره یې د صحابه و تر منځ د نظر د اختلاف مثالونه دي.
په متفق علیه حدیث کې راغلي چې د احزاب د غزا په ورځ پیغ مبر علیه السلام اصحابو ته وفرمایل: لایصلین احد العصر الا في بني قریظه. ژباړه: هیڅ یو کس به د مازیګر لمونځ نه ادا کوي مګر په بني قریظه نومي ځای کې.
پر اصحابو د مازیګر د لمانځه وخت په لاره کې راغی، ځنو وویل: تر څو چې بنی قریظه ته ونه رسیږو د مازیګر لمونځ نه کوو او ځنو یې وویل : لمونځ به په لاره ادا کړو او د پیغمبر علیه السلام د خبرې موخه دا نه وه چې لمونځ قضا کړو بلکې بیړه کول یې مقصد و، دې دواړو ډلو په خپل خپل نظر عمل وکړ او بیا یې خپل سر ګذشت د اسلام پیغمبر ته ووایه، هغه یو هم رد نکړ بلکې د دواړو ډلو لمونځونه یې سم وبلل.

ابو سعید خدري وایي: دوه کسا ن په سفر ووتل، د لمانځه وخت راغی او د دوی سره اوبه نه وې نو دواړو تیمم وکړ او لمونځ یې ادا کړ بیا یې اوبه پیدا کړې نو یوه یې اودس وکړ او له سره لمونځ وکړ، دوهم شخص دا کار ونه کړ او لومړی لمونځ یې کافي وګڼلو، بیا دوی پیغمبر ته راغلل او دا کیسه یې ورته تېره کړه ، پیغمبرعلیه السلام هغه کس ته چې لمونځ یې نه و راګرځولی وویل : تا د سنتو سره سم کار کړی او لمونځ دې شوی دی او هغه کس ته چې بیا یې اودس وکړ او له سره یې لمونځ ادا کړی و وویل: ستا لپاره دوه اجره دي.
که څه هم په ټولو کارونو کې اخ تلاف له منځه وړل یو ناشونی کار او د انسان د طبیعت سره اړخ نه لګوي خو موږ باید لومړی د اتفاق په پیدا کولو کې پوره زیار وباسو او د اختلاف په صورت کې ځان پ وه کړو چې څرنګه اختلاف وکړو، د نظرونو د اختلاف مانا دا نده چې د خپلې خوښې پسې روان شو او پر اصولو او اساساتو تېری وکړو بلکې مانا یې داده چې د اختلاف پر مهال پر اساساتو باور وکړو، مسلکي لاره غوره کړو، سلیم عقل ته ارزښت ورکړو او په خبرو اترو کې د مقابل لوري پر نظ ر باندې ښه غور وکړو، د تعصب او ځان غوښ تنې له امله د مقابل لوري نظر د غور او ارزونې څخه مخکې رد نکړو الله فرمایي: (وَإِنَّا أَوْ إِيَّاكُمْ لَعَلَى هُدًى أَوْ فِي ضَلَالٍ مُّبِينٍ قُل لَّا تُسْأَلُونَ عَمَّا أَجْرَمْنَا وَلَا نُسْأَلُ عَمَّا تَعْمَلُونَ قُلْ يَجْمَعُ بَيْنَنَا رَبُّنَا ثُمَّ يَفْتَحُ بَيْنَنَا بِالْحَقِّ وَهُوَ الْفَتَّاحُ الْعَلِيمُ) د سبا سورت ۲۴،۲۵، ۲۶ آیت.
ژباړه: دا خبره له شکه وتلې ده چې په موږ او تاسې کې به یو لوری په سمه او یا په ښکاره بې لارۍ اخته وي، ورته ووایه نه به تاسې زموږ د کړو ګناهونو په هکله وپوښتل شی او نه به مو ږ ستاسې له کړنو وپوښتل شو ، ووایه چې زموږ رب به موږ او تاسې راټول او بیا به مو په منځ کې د حق پرېکړه وکړي.
کله چې کافرو ته د مسلمان خطاب دا سې وي نو تاسو څه فکر کوي چې د خپل منځي اختلاف په مهال څومره ادب او احتیاط ته اړتیا ده.
د بحث کوونکو لپاره دا هم اړینه ده چې د بحث پر مهال له پولو څخه تېری ونکړي، مقابل لوری ونه پاروي او کنځلې او ټوکې ونکړي ځکه چې د بحث پر مهال کنځلې او ټوکې کول د منافقانو کار دی.
هغه څه چې موږ سره په بحث کې مرسته کوي د اصولو او فروعو تر من ځ توپیر او د لومړیتوبونو پېژندل دي . داسې نه چې د فرعي او اختلافي مسایلو لپاره د اتفاقي او اساسي شیانو څخه انکار وکړو او یا د نفلي خبرو لپاره په فرضو تېری وکړو، څومره به ښه وي که موږ په اتفاقي څیزونو کې سره مرسته وکړو او په اختلافي مسایلو کې یو بل معذور وګڼو.
له همدې څخه جوتیږی چې د اختلاف نه تېښته نشته ا و له دې پرته بله چاره نشته چې خپلې سینې پراخه کړو، یو بل ومنو او د امام مالک دا خبره خپل شعار وګرځوو چې وایي: زه انسان یم کله خطا شم او کله رسیږم، زما نظر وګورئ که د قران او سنت سره برابر و نو یې واخلي او چې د قران او سنت سره موافق نه و نو یې پرېږدي.
امام ابوحنیفه څه ښه ویلي: زموږ نظر سم دی د خطا احتمال لري او د نورو نظر خطا دی د سموالي احتمال لري.

د حق پلټنه، حق پسې تلل، او پر هغې ټينګ پاتې کېدل يواځينۍ لار ده چې خبرې اترې او مناقشه په سمه لاره وړاندې بيايي او د نفس د پيروۍ او تعصب په وړاندې خنډ واقع کيږي.
بحث کوونکی بايد پدې باور وي چې کېدای شي د مقابل لوري سره داسې څه وي چې دی يې ورڅخه زده کړي ځکه نو بايد زيار وباسي چې نظرونه او دلايل تبادله شي او پرته له دې چې زړو نه او صفونه سره مخالف شي يوه غوره حل ته ورسيږي.
امام شاطبی پخپل کتاب (الاعتصام) کې د عمر بن عبدالعزيز څخه ليکلي چې ويل يې: دا سمه نده چې ووايو د رسول الله ملګرو اختلاف ندی کړی ، که چېرې د پيغمبر د ټولو ملګرو خبره يوه وای نو بيا به خلک په تنګسه کې و ځکه هغوی د خلکو امامان او مقتدا دي.
لکه مخکې مو چې د شرعي نصوصو په رڼا کې د اصحابو د نظر د اختلاف بېلګې يادې کړې په همدې ډول په عامو کارونو کې هم د اصحابو تر منځ اختلاف پيدا شوی او بيا حل شوی لکه د بدر په غزا کې د غنيمتونو په وېش او د بنديانو د برخليک په ټاکلو کې اختلاف، د احد د غزا پر مهال پدې خبره اختلاف چې آيا دښمن ته ووووځي او که د مدينې دننه دفاع وکړي، د حديبيې د سولې په کال مکې معظمې ته د ننوتلو پر سر اختلاف او د پيغمبر د وفات څخه وروسته د خليفه په ټاکلو کې د اصحابو د نظر اختلاف او داسې نور.
د اصحابو تر منځ دا ډول اختلافات پيدا شوي چې شخصي بڼه يې نه درلوده بلکې دا د ملتزمو مومنانو اختلاف و چې د حق د څرګندولو لپاره منځته راتلو او بيا حل کېده، نو د اختلاف او مناقشې پر مهال بايد په پاک نيت او پراخه سينه بحث وکړو او د پيغمبر دا حديث ياد ولرو چې فرمايي: من اجتهد فاصاب فله اجران ومن اجتهد فاخطا فله اجر واحد. متفق عليه.
ژباړه: چا چې اجتهاد وکړ او مصيب شو د هغه لپاره دوه اجره دي او هغه چا چې اجتهاد او کوښښ وکړ او خطا شو نو د هغه لپاره يو اجر دی

**مسلمان د حق پلټونکی دی:**

مسلمان د حق پلټونکی، د حقيقت لټوونکی، د سموالي په تلاش او د خطا څخه لرې تښتي خو د يهودو دا عادت و چې د خلکو د تېر ايستلو او د خپلو ناروا موخو د لاس ته راوړلو لپاره به يې حق او باطل سره ګډوډول چې الله پاک له دې کار څخه منع کړل الله فرمايي: (وَلاَ تَلْبِسُواْ الْحَقَّ بِالْبَاطِلِ ژباړه) د بقرې سورت دوه څلوېښتم آيت. ژباړه: حق له باطل سره مه ګډوي.
همدا راز الله پاک د اهل کتابو په هکله چې يهود او نصارا دي فرمايي چې دوی په زړونو کې ښه پوهيږي چې پيغمبر او د هغه کتاب ريښتونی دی چې ددوی په کتابونو کې هم دا خبره شته خو د دوی يو شمېر ملايان پرې سترګې پټوي الله پاک فرمايي: (الَّذِينَ آتَيْنَاهُمُ الْكِتَابَ يَعْرِفُونَهُ كَمَا يَعْرِفُونَ أَبْنَاءهُمْ وَإِنَّ فَرِيقاً مِّنْهُمْ لَيَكْتُمُونَ الْحَقَّ وَهُمْ يَعْلَمُونَ) د بقرې سورت يو سلوشپږڅلوېښتم آيت . ژباړه: کومو کسانو ته

چې موږ کتاب ورکړی دی، محمد د خپلو اولادونو په څېر پیژني خو د دوی یوه ډله په رڼو سترګو حق تر پښو لاندې کوی.
پیغمبر علیه السلام فرمایي: الحکمه ضاله المومن انما وجدها فهو احق الناس بها .
ژباړه: د حکمت خبره د مسلمان ورک شوی څیز دی هر چې رې یې چې وموند تر نورو خلکو یې دی ډېر حقدار دی.
کبر چې یوه روحي ناروغي او د بنده ایمان ته یو ګواښ دی خوږ پیغمبر یې موږ ته داسې راپیژني: حق نه منل، د هغې څخه انکار کول او د خلکو سپک ګڼلو ته کبر ویل کیږي.
په هغه حدیث کې چې مسلم روایت کړی خوږ پیغمبر فرمایي: لایدخل الجنه من کان في قلبه مثقال حبه من کبر ، فقال رجل: ان الرجل یحب ان یکون ثوبه حسنا و نعله حسنا، قال: ان الله جمیل یحب الجمال، الکبر بطرالحق وغمط الناس.
ژباړه: د چا په زړه کې چې د دانې قدر ته کبر وي جنت ته به داخل نشي. یوه سړي وویل: یو سړی به دا خوښوي چې کالي او څپلۍ یې ښکلې وي. پیغمبر وفرمایل: الله پاک ښایسته دی او ښکلا خوښوي، کبر د حق نه منلو او د خلکو سپک ګڼلو ته وایې.
د حق نه منل او پر هغې پرده اچول د یهودو او نصاراو د خویونو څخه دي، کبر د مسلمان د اخرت لپاره خطرناک دی ځکه به سلفو عالمانو د مناقشې او مناظرې پر مهال د نیت په پاکوالي ډېر ټینګار کاوه . امام غزالي پدې هکله وایي : د حق په پلټنه کې مرسته کول د دین برخه ده خو ددې لپ اره خپل شرطونه دي چې پدې ډول یې یادوونه کوو:
پکار ده چې بحث کوونکی د ورک شوي څیز د هغه لټوونکی په څېر وي چې ددې توپیر نه کوي چې مال یې د چا په لاس کې بیاموند او خپلې هر مرسته کوونکي ته د ملګري په سترګه وګوري نه د دښمن او هم کله چې مرسته ورسره وکړي مننه یې کوي.
د اصحابو مشورې په همدې ډول وې تر دې چې یوې ښځې د عمر خبره رد کړه او هغه ته یې د حق لارښووڼه وکړه، هغه چې د خلکو تر منځ د خطبې ویلو په حال کې و داسې وویل: د ښځې نظر سم وخوت او سړی په ناسمه دی.

**نیت:**

تر څو چې بحث کوونکی د خپل نیت پر پاکوالي باوري شوی نه وي مناقشه او بحث به نه پیل کوي ځکه د بحث کولو موخه دا نده چې د مناقشې له لارې خلکو ته خپله پوهه او پر خپلو سیالانو لاس بری ښکاره کړي ، هغوی ته ماتې ورکړې، د خلکو نظر ځانته راواړوې او خلک دده ستاینه وکړي . دا هغه څیزونه دي چې د الله په دربار کې د بنده ثواب له منځه وړ ي. بحث کوونکی باید د هر څه د مخه دا پـه یاد ولري چې دی د الله لوري ته بلونکی او داعي دی او باید د هر هغه څیز څخه چې د دعوت کار ته زیان رسوي ډډه وکړي.
د یوه عالم زوی خپـل پلار ته وویل : تاسو موږ له مناظ رې کولو څخه منع کوي پداسې حال کې چې تاسو به پخپله مناظرې کولې؟ پلار یې ورته ووئ: بچیه! موږ به مناظرې کولې خو له دې وېرې چې ملګری مو ونه خویږي او پر نشي داسې به

غلي و لکه پر سو مو چې مرغه ناست وي خو تاسو چې مناظره کوي له دې وېرې چې تاسو پې نشي او سیال بریالی نشي دا  سې غلي یاست لکه پر سر  مو چې مرغه ناست وي.
پدې کیسه کې د نیت د پاکوالي  او اخلاص ډېر ژور درس پروت دی. داعي ته پکار دي چې د بحث د پیل کولو څخه مخکې د خپل ځان څخه وپوښتي چې آیا نیت یې یوازې د الله پاک رضا کول دي او که د خبرو شوق پوره کول؟ که چېرې یې نیت پاک هم وي پدې باید فکر وکړي چې بحث یې کومه ګټه ل      ري او که نه نورې ستونزې زیږوي، اختلافاتو ته لمن وهي او وېدې فتنې راویښوي.
کله کله شیطان موږ ته داسې رابښایې چې ګوندې موږ د حق د ښکاره کولو لپاره بحث پیل کړی خو په کرار کرار مو د ځان غوښتنې په لومه کې راګیروي ځکه نو باید دې خبرې ته ځیر اوسو او د بحث او مناقشې ځای وپیژنو الله پاک فرما  یې: (لاَّ خَيْرَ فِي كَثِيرٍ مِّن نَّجْوَاهُمْ إِلاَّ مَنْ أَمَرَ بِصَدَقَةٍ أَوْ مَعْرُوفٍ أَوْ إِصْلاَحٍ بَيْنَ النَّاسِ وَمَن يَفْعَلْ ذَلِكَ ابْتَغَاء مَرْضَاتِ اللّهِ فَسَ    وْفَ نُؤْتِيهِ أَجْرًا عَظِيمًا  ) د النساء سورت یو سلوڅوارلسم آیت.
 ژباړه: د هغوی په ډېرو پټو خبرو کې  هیڅ خیر نشته خو یوازې د هغه چا پ‍ه پټو خبرو کې خیر شته چې په خیرات، نېکی او د خلکو ب‍ه منځ کې په روغه راوستلو امر کوي.
همدا راز معاذ بن جبل له رسول الله   څخه پوښتنه وکړه چې آیا زموږ ب‍ه خبرو هم زموږ سره حساب کېږي؟ هغه ورته وفرمایل : ثکلتک امک، وهل یکب الناس فی النار علی وجوههم الا حصاید الستنهم.
ژباړه: پر تادې مور بوره شي، همدا د خولې لو دی چې انسانان پر مخ په دوزخ کې غورځوي.
پیغمبر د نصیحت په توګه  جلیل القدر صحابي ابوذر ته وویل: علیک بطول الصمت فانه مطرده للشیطان و عون لک علی امر دینک.
ژباړه: تل چوپ  اوسه ځکه چوپوالی د شیطن شړونکی او د دین په کار کې مرسته کوونکی دی.
رسول پاک فرمایي: د بنده ایمان تر  هغې نه پوره کیږي تر څو چې یې زړه سم  نشي او زړه تر هغې نه سمیږي تر څو چې یې ژبه سمه نه شي.
همدا راز فرمایي: من حسن اسلام المرء ترکه ما لایعنیه . ژباړه: د بې ځایه کارونو پرېښودل د ښه ایمان نښه ده.
عبدالله بن مسعود فرمایي: په الله سوګند د ځمکې پر مخ د ژبې څخه زیات هیڅ شی بندولو ته ډېره اړتیا نه لري.
ددې پایله دا راوځي چې انسان باید خپله ژبه په واک کې کړي ځکه په هر ټکي ورسره حساب کیږي او د هرې مناقشې څخه مخکې خپل نیت پاک کړي، له دې امله که کله حقیقت د بل چا په ژبه ښکاره شي انسان باید خوشاله شي ځکه د بحث  موخه د حق ښکار ه کېدل دي  که څه هم د بل  چا پهژبه وي . که بحث کوونکی او مناقش کله د خبرو اترو  په منځ کې داسې وانګیري چې بحث په   تشو ناندریو، دښمنۍ او

ځان ښودنې اوختې نو د پيغمبر   عليه السلام  ددې حديث سره سم دې بحث پرېږدي چې فرمايي: ان اول شی نهانی عنه ربی بعد عباده الاوثان المراء.
ژباړه: د بتانو د  عبادت له منع کېدو  وروسته چې الله پاک زه له کوم کار څخه منع کړی يم هغه ځان ښودنه ده.
د بحث کولو د شرطونو څخه دا   هم دی چې مناقشه کوونکی داعي بايد لومړی د خدای بې‌وړاندې ريښتونی وي بيا د خپل ضمير او هم پخپله خبره قانع او په عمل کې ورباندې کلک ولاړ وي تر څو خبرې  او عمل يې سره برابر وي او خلک ورڅخه ګټه‌واخلي ، څرنګه چې دی د قدوې او پيروۍ په ځای کې دی نو عمل او خبرې يې بايد توپير ونلري.

**مناسب ظروف:**

مخکې له دې چې په مناقشه او بحث پيل وکړو بايد حالات او ظ روف وګورو چې د مناقشې او بحث وړ دي او که نه؟
د ظروفو څخه مو موخه درې څيزونه دي:
۱- د بحث ځای.
۲- د بحث وخت.
۳- د بحث حالات.
۱- د بحث ځای: د بحث ځای کېدای شي کوم تالار، کور، دفتر موټر او يا چمن وي.
۲- د بحث وخت: دېته بايد متوجه اوسو چې ايا د مناقشې لپاره وخت شته؟ ناوخته خو ندی؟ آيا د خوب وخت خو ندی؟ يا دا چې د ډوډوۍ وخت دی او خلک وږي دي او يا هم د کوم کار لپاره ځان چمتو کوي او د بحث لپاره وخت نلري.
۳- د بحث کوونکي حالات : بحث کوونکی بايد له ځانه وپوښتي چې په نفسی لحاظ مناقشې ته چمتو دی او ستړی خو ندی؟ پدې بايد هم پوه وي چې د مقابل لوري علمي سويه او درجه دده څخه پورته ده که ښکته؟ آيا داسې څوک خو مجلس کې نشته چې په بحث کې بېځايه مداخله کوي او د بحث څخه د ګټې اخستلو په مخ کې خنډ واقع کيږي؟ کله چې بحث کوونکی د پورته شيانو په نظر کې نيولو سره ظروف او حالات د بحث کولو لپاره مناسب وګڼي نو بيا دې خپل نيت پاک کړي او په الله دې توکل وکړي او بحث دې پيل کړي او که حالت يې مناسب ونه لېدو نو چوپ دې پاتې شي او له بحث کولو دې ډډه وکړي.
د داع ي او بحث کوونکي په توګه دېته اړ يو چې د معلوماتو په ټولولو کې ښه غورچاڼ وکړو، ډېرې داسې خبرې شته چې د خاصو خلکو سره يې ويلای شو خو د عامو خلکو په وړاندې يې ويل د ګټې پر ځای ستونزې راپيدا کوي همدارنګه ځنې خبرې او دلايل چې په يوه ځای کې يې خلک ښه ګڼي په بل ځ    ای کې د خلکو بد ايسي او نه يې مني . هوښياران وايي: ډېر شيان دي چې د پوهې وړ دي خو د ويلو وړ ندي او هم وايي : لکل مقام مقال، ولکل مقال مقام . د هر ځای لپاره خپلې خبرې دي ، او د هرې خبرې لپاره خپل ځای وي.
دا دواړه داسې خبرې دي چې د هوښيار بحث کوونکي له سترګو څ خه يو وخت هم بايد پټې نه وي.

**پوهه:**

په هغه موضوع کې مناقشه مه کوه چې ورباندې نه پوهېږې او هم د هغه نظر څخه دفاع مه کوه چې ورباندې قانع نه یې . که چېرې ته په یوه مسله نه پوهېږې یا ورباندې فانع نه یې او د فاع ورڅخه کوې نو له یوې خوا ځانته ستونزې پیدا کوې او له بل پلوه ددغه نظر او رایې حقانیت ته هم زیان رسوې ځکه ډېر خلک نظر او رایې ته د هغې د ښتن له زاویې څخه ګوري، د رایې د ښتن بریالیتوب د رایې بریالیتوب او حقانیت ګڼي او د رایې د ښتن ماتې د رایې او فکر ماتې او ناسموالی ګڼي نو د الله پاک دا خبره هر وخت یاده ل ره چې فرمایي: (وَلاَ تَقْفُ مَا لَيْسَ لَكَ بِهِ عِلْمٌ إِنَّ السَّمْعَ وَالْبَصَرَ وَالْفُؤَادَ كُلُّ أُولئِكَ كَانَ عَنْهُ مَسْؤُولاً ) د اسرا سورت شپږدېرشم آیت. ژباړه: په هغه څ ه پسې مه ځه چې پرې پوه نه یاست ، بې له شکه چې غوږ سترګه او زړه هر یو یې پوښتېدونی دی.

مناقشه کوونکی باید پخپله موضوع کې ښه چمتوالی ولري ، اتقان (کار په ښه ډول سرته رسول) د مومن خوی دی ا و د الله پاک دا خوښېږي چې بنده خپـل هر کار په ښه ډول سر ته ورسوي . د موضوع لپاره ښه چمتوالی د هغې په ښه وړاندې کولو کې مرسته کوي او اورېدونکي ته هغه څ ه په لاس ورځي چې ورته اړتیا لري . د بحث کولو پر وخت باید د ټکو او لفظونو انتخابولو ته ډېر ځیر شو تر څو بحث د ښـګړې پر ځای د شر خوا ته ولاړ نشي . قران کریم موږ ته راښایي چې د دعوت لاره په علم، پوهې او پخو دلایلو روښانه ده د ګومان څخ ه نه علم راوځي او نه حق ته ګتهٔرسوي.

قران کریم دیته اشاره کوي چې داعي بې علمه او بې پوهې دریځونه نه نیسي فرمایي: (قُلْ هَذِهِ سَبِيلِي أَدْعُو إِلَى اللّهِ عَلَى بَصِيرَةٍ أَنَاْ وَمَنِ اتَّبَعَنِي ) د یوسف سورت یوسلو اتم آیت. ژباړه: ووایه چې دا زما لار ده چې په ښه بصیرت او ښوهې سره زه او زما پیروان د الله ښهلور بلنه کوو.

پوهه او د موضوع لپاره چمتوالی د د عوتګر وسله ده، پر همدې بنسټ یوازې عالم کولای شي د چا پـو نظر نیوکه وکړي او خلک یې ورسره ومني ، د جاهل او ناپوه سړي اعتراض ته څوک ارزښت نه ورکوي.

هغه ځیزونه چې دعوتګر او بحث کوونکی وربا ندې د بحث په وخت تکیه او باور کولای شي په لاندې ډول ذکر کوو:

بحث کوونکی باید د موضوع لپاره پوره چمتوالی ولری، ټول اړخونه مطالعه کړي او ټول احتمالات په پام کې ولري، د موافقینو او مخالفینو له نظر څخه ځان خبر کړي او د ه غوی دلایل په پراخه سینه ولولي. داعي باید د تېز نظر او پخې تجربې خاوند وي، د وخت او ځای پر غوښتنې او د علم او هنر پر پرمختګ خبر او د خلکو د مزاج او طبیعتونو سره روږدی وي، خپل دلایل داسې وړاندې کړي چې د خلکو احساسات راوپاروي او ضمیر قانع کړي . د موضوع لپاره د تفسیر ، حدیثو او فقهې له باوري کتابونو څ خه ګټه واخلي او د قران په ایتونو او نبوي احادیثو استدلال وکړي. او په پای کې بحث کوونکی او داعي باید له خپل ځان سره ریښتونی ا و پر خپل دریځ قانع وي تر څو د هغو کسانو په لیکه کې رانشي چې پ یغمبر علیه السلام

يې په هکله فرمايي : لاتتعلموا العلم لتباهوا به العلماء وتماروا به السفهاء ولتصرفو ا به وجوه الناس اليكم، فمن فعل ذلک فهو فی النار.
ژباړه: علم د دې لپاره مه زده کوئ چې د علماو سره پرې بحث وکړ ئ، د ناپوهانو سره پرې ناندرۍ ووه ي اود خلکو پام ځان ته راواړوي، که چا دا کار وکړ هغه په اور کې دی.

**ټول خلک یو ډول ندي:**

خلک په عقل او پوهه کې سره برابر ندي هغه دلايل چې احمد ته د منلو وړ دي خالد ته به د منلو وړ نه وي، د مناقشې طريقه چې د يوه خوښه ده بل ته خوند نه ورکوي. د مناسبو دلايلو او مناسبې طريقې غوره کول اړين دی . بحث کوونکي ته پکار دي چې د مقابل لوري د پوهې او علم درجه وپيژني، د مولوي سره د طالب په ډول او د طالب سره د مولوي په ډول خبرې ونکړي، د مولوي لپ اره ساده او اسانه شيان تشريح نشي او د لږ علم خاوند لپاره بايد سخت او ستونزمن شيان بې له روښانه کولو پرېنږدو.
دا هم ګټوره ده چې د مقابل لوري څخه داسې پوښتنې وکړې چې ځرګنده کړي ته د هغه سره په يو شمېر خبرو باندې قانع يې، دا کار داسې انګېزه پيدا کوي چې ګونډې ته غواړې له مقابل لوري څه واورې، ته د حق پلټونکی يې او لا کوم غوځ دريځ دې ندی نيولی. پدې ډول ته کولای شې د مقابل زړه ته لار پيدا کړې، هغه ستا خبره په پراخه سينه واوري او قناعت يې تر لاسه کړې.

**د خلکو وخت مه نيسه:**

د خبرو په مجلس کې ټول وخت نيول ، مقابل لوری د خبرو کولو څخه بې برخې کول او دومره اوږدې خبرې کول چې پر خلکو درنې تمامې شي ټول هغه کارونه دي چې بايد ورڅخه ډډه وشي. په خبرو کې د خلکو وخت نيول او په ډوډوی کې د هغوی برخه خوړل دواړه سره ورته دي او دواړه د انسان له نيمګړتياو څخه شمېرل کيږي، له همدې امله په خبرو کې د وخت مراعاتول پکار دي که کنفرانس وي او د مسولينو له خوا ورته وخت وټاکل شي له هغې څخه به تېری نه کوي او که وخت ونه ټاکل شي مقرر بايد د وخت او ظروفو مناسب د ځان لپاره وخت وټاکي، د بېلګې په ډول په مسجد کې د سهار له لمانځه وروسته خبرې بايد لنډې وي ځکه چې خلک کارونو ته ځي ، چای څښي او کار ته تياری نيسي خو که چېرې مجلس په کوم بڼ کې وي وخت زيات وي او خلک هم نه تنګيږي نو ته کولای شې چې خبرې يو څه اوږدې کړې.
هوښياران وايي الله پاک انسان ته يوه خوله او دوه غوږونه ددې لپاره ورکړي چې لږ ووايي او ډېر واوري. په ټوليز ډول زموږ په ټولنو کې د خطيبانو او ويناوالو له خوا خبرې اوږدول تقريبا عامه ستونزه ده چې يو څه بدې اغېزې هم لري او لاملونه يې ښايي دا وي:
الف: خپل ځان ته غره کېدل او ګ ومان کول چې ګونډې خلکو ته ډېر نوي شيان وړاندې کوي.

ب: د شهرت او ستاينې مينه.
ج: د خلکو د پوهې، وخت او نظر څخه ناخبري.
څنګه چې داعي ته بکار ده چې د پورته درې شيانو څخه ځان وساتي بايد لاندې دوه شيانو ته هم ځير اوسي:
الف: د لسو دقيقو خبرو اورېدو وروسته خلک په ډېره ستونزه کولای شي خبرې په غور واوري چې دغه وخت بايد د خبرو پر مهال مراعات شي.
ب: يو لړ مسايل دي چې د ډېرشو کلو پورته خلک ورباندې پوهيږي ځکه هغوی دا مسلې د موعظو، تقريرونو او نورو لارو اورېدلي او بيا تکرار يې درونډ پريوځي.

**ښه اورېدل:**

ښه وينا کوونکی ښه غوږنيوونکی هم وي نو ځان ښه غوږ نيونکی کړه ، د خلکو خبرې مه پرې کوه ، څنګه چې ته غواړې خلک درته غوږ ونيسي نور هم غو اړي چې خبرو ته يې غوږ کېښودل شي . يو شمېر خلک د مقابل لوري خبرو ته په غوږ نه نيولو سره د هغوی زړه بدوي، دوی خپلې خبرې کوي او بل چا ته نه د خبرو وخت ورکوي او نه ورته غوږ نيسي، ددوی په ګومان څوک چې ډېرې خبرې کوې د خلکو به نظر هماغه بريالی دي.
ډيل کارنګي وايي: که غواړې چې خلک له خپ لې خوا څخه وشړې او تا پورې وخاندې نو په مجلس کې هيچا ته د خبرو وار مه ورکوه او پرلپسې خبرې کوه، کله چې ستا په مغزو کې کومه خبره راوګرځي او بل څوک خبرې کوي دېته انتظار م ه باسه چې هغه وينا پای ته ورسوي، هغه خو ستا څخه ډېر هوښيار ندی نو ولې يې بې وينا اورېدو خپل وخت ضايع کوې، د خبرو په منځ کې ورودانګه وينا يې غوڅه کړه او خپله خبره پيل کړه.
شاعر وايي:
ان بعض القول فن فاجعل الاصغاء فنا
ژباړه: که وينا کول يو هنر دی، غوږ کېښودل هم هنر وګڼه.
ځنې وخت مقابل لوری وينا کوي او د هغې په خبرو کې داسې څه وي چې تصحيح، روښانولو او تبصرې ته اړتيا لري، پداسې وخت کې غوره دا ده چې کاغذ او قلم ولرو او نوموړي ځيزونه يادداشت کړو کله چې زموږ وار راشي بې له دې چې څه مو له ياده وتلي وي پوره يې روښانه کړو، ددې څخه چې د چا وينا بېې کړو دا لاره ډېره غوره او ګټوره ده. ابن المقفع وايي:
ښه غوږ نيول داسې زده کړه لکه ښه وينا کول چې زده کوې، ښه غوږ نيول دا دي چې مقابل لوري ته وخت ورکړې چې خپلې خبرې پای ته و رسوي، خپل مخ او سترګې هغه ته ځير کړې او په خبره يې ځان پوه کړې.
حسن بن علي به خپل ځوی ته ويل: ای ځويه! کله چې د علماو سره کېناستې د ويلو پر ځای د اورېدلو وږی اوسه، ښه غوږ نيول داسې زده کړه لکه ښه وينا کو ل چې زده کوې، د چا وينا په منځ کې مه پرې کوه که اوږده هم شي.

**ځانته پاملرنه:**

د خبرو اترو او مباحثې پر مهال ځانته ډېر پام کوه چې آیا غږ خو دې ډېر لوړ ندی؟
د لقمان حکیم دا نصیحت چې په قران کې راغلی یاد لره : (وَاقْصِدْ فِي مَشْيِكَ وَاغْضُضْ مِن صَوْتِكَ إِنَّ أَنكَرَ الْأَصْوَاتِ لَصَوْتُ الْحَمِيرِ ) د لقمان سورت نولسم آیت.
ژباړه: په خپل تګ کې م نځنی حال غوره او خپل غږ ټیټ کړه ، بې له شکه چې له ټولو بد اواز د خرو انګا ده.
بیا هم خپلې ځان ته ځیر اوسه چې د خپل علم له امله خو کبر او لویې نه یې اخیستی، ستا په مخ ، اشارو او د خبرو کولو په لهجه کې خو کبر او ل ویې نه ښکاري؟ که داسې وي نو سمدستي خپله طریقه بدله کړه او بخښنه وغواړه. همدا رنګ احساساتي کېږه مه چې د بحث کوونکي پر ځا ی خبرې دومره اوږدې کړې چې مقرر او خطیب له ځان نه جوړ کړې او هم د تکرار څخه ډډه وکړه.
زیاتره خلک پدې روږدي شوي چې د مباحثې او مناقشې پر مهال ورڅخه خپل ځان هېر وي او د مقابل لوري دلایلو، خبرو او حرکاتو ته ډېر ځیر وي تر څو هر څه یې وڅاري او بیا یې رد کړي.
خپلې ځان ته باید ډېره پاملرنه وکړې، خپلې ژبې ، غږ او لهجې ته باید ځیر شو ځکه چې پداسې وخت کله کله زموږ له خولې داسې ناوړه او بې خونده خبرې وځي چې د کبر، لویې او ځان پورته ګڼلو بوی ورڅخه راځي چې د مباحثې په پایلو ډېر بد اغېز لري.
د مباحثې او خبرو اترو له هغو طریقو څخه ځان وساته چې په کرار کرار پکې خپل کنترول له لاسه ورکوې او علمي امانت له منځه ځي . یو شمېر خلک دي چې د حقیقت د روښانه کولو لپاره نه بلکې د باطل لپاره نااندرۍ وهي، په بحثونو او ناندریو روږدي شوي، په خبرو کولو کې د خدای څخه وېره نلری او د بې لارې کوونکو نظریاتو د خپرولو څخه ډډه نه کوي، دوی د خلکو د تنګولو او بریا په امید په دروغو ویلو او مبالغې کولو اړ ندی.
پخپل ځان کنترول پیدا کول اسانه کار ندی، او یوه اوږد تم رین او مشق ته اړتیا لري، ددې بریالی لاره دا ده چې سړی د ارام او یوازیتوب بې مهال د خپل ځان سره په پراخه سینه پردې مسایلو فکر وکړي، د خپ لې کړې مباحثې پر بهیر سترګې واچوي او له ځانه وپوښتي چې هغه نظر چې تا وړاندې کړ آیا ورباندې بلوري، قانع او عمل کوونکی یې؟ د مباحثې په کوم ځای کې دې توله او توازن له لاسه ورکړی؟ همدا طریقه سمه وه که تغییر ته اړتیا شته؟
پر مباحثو داسې نظر اچول او وقفه کول موږ سره ډېره مرسته کولای شي . د مقابل لوري په خبرو باید ځان سم پوه کړو او په حکم کولو کې بیړه ونکړو او که چېرې د کوم ټکي په مانا او مقصد پوه نه شو نو د هغې په بیا پوښتلو او روښانه کولو کې شرم ندی پکار. د اړتیا پرته خبرې مه کوه او د خلکو احساسات هم بې ضرورته مه راپاروه.
ابوعمرو بن العلاء وایي: بې له دې چې له تا څخه څوک پوښتنه وکړي ځواب ویل او کله چې څوک ستا خبرو ته غوږ نه نیسي خبرې کول د ادب کار ندی

زیار وباسه چې یواځې هلته خبرې وکړې چې تاته امر وشي او یا د یوې مسلې پوښتنه در څخه وشي هغه هم د اړتیا په اندازه او کله چې معلومات وړاندې کوې نو تحقیق کوه او بې بنسټه او بې سنده خبرې مه کوه، د خبرو د ډېروالي او ګډوډۍ څخه ځان ساته.

**بیان:**

پیاوړی تعبیر، د ژبې فصاحت او بلاغت د ښې مناقشې او بریالي بحث بنسټونه دي. ډېر حقونه د پسې ژبې له املـه ضایع کیږي او ډېر ځلې ناسم نظر د پیاوړې ژبې له امله بریا مومي. وایې چې د عربي ژبې امیرالشعراء احمد شوقي به خپل شعرونه په نورو خلکو لوستل ځکه هغه ښه نشو وړاندې کولای او که کله به یې ولوست نو ډېر به ټیټ بې خونده کړ.

له همدې امله باید بحث کوونکی خپ لې خبرې منظمې او خپله ژبه پیاوړې کړي، غښتلې ژبه، پهترتیب سره خبرې کول، له غلطۍ څخه ځان ساتل، بې له وارخطایۍ پداسې صاف غږ چې اورېدونکو لپاره واضحه وي او په اسانه پرې پوه شي خبرې کول پر اورېدونکو ځانګړی اغېز لري. پردې سربېره پهخبرو کې مثالونه راوړل، پر شعرونو او متلونو استدلال کول او حاضر ځوابي د بحث کوونکې ښه وسله ده.

کله چې الله پاک موسی علیه السلام فرعون ته د دعوت لپاره لېږه نو موسی دد ې درنې دندې د سر ته رسولو لپاره د الله پاک څخه ځو غوښتنې وکړې چې په هغې کې د فصیحې او بلیغې ژبې دعا هم وه . د موسی علیه السلام دعا داسې وه : وَاحْلُلْ عُقْدَةً مِّن لِّسَانِي ژباړه: زما د ژبې غوټه وسپړه تر څو زما په خبره پوه شي.

په خبرو کې د نااشنا او سختو ټکو کارول د بلیغ سړی کار ندی، قران پاک د پیغمبر په اړه فرمایي: (وَمَا أَنَا مِنَ الْمُتَكَلِّفِينَ) د ص سورت شپږاتیایم آیت.

ژباړه: زه له مشقت اچوونکو څخه نه یم.

پیغمبر علیه السلام فرمایي: ان ابغضکم الی وابعدکم منی مجلسا یوم القیامه الثرثارون والمتشدقون والمتفیقهون. ژباړه: د قیامت په ورځ بـه ډېر مبغوض او زما د مجلس څخه تر ټولو لرې هغه کسان وي چې په خبرو کولو کې تکلف کوي او هغه کسان چې د خلکو په وړاندې اوږدې خبرې کوي او هغه چې په وازه خوله غټې خبرې کوي تر څو په خلکو ځان پورته وګڼي.

په روښانه جملو رواني خبرې کول، اسانه او اشنا ټکي کارول زموږ کار اسانه او د ټولو خلکو د پوهېدو لپاره لار هواروي، کله خو د خبرو پر ځای د یوه عمل تـو سره کول ډېر بلیغ او اغېزناک وي. د خوږ پیغمبر لمسو حسن او حسین رضی الله عنهما یو سړی وکوت چې په ناسم ډول اودس کوي، دوی چې د حیا له امله هغه ته مخامخ د هغه غلطۍ نشوه په ګوته کولای نو دواړو سلا وکړه او هغه سړي ته راغلل ، هغه ته یې وویل چې موږ دواړه ستا په وړاندې اودس کوو ته‌به فیصله وکړې چې زموږ کوم یو په سمه طریقه اودس کوي، دواړو د سړي په وړاندې اودسونه وکړل، سړی پوه شو چې غلطي دده په اودس کې ده نه د حسن او حسین په اودس کې او په غوره ډول د یوې تېروتنې اصلاح وشوه.

**متلونه او مثالونه:**

بريالی او هوښيار بحث کوونکی هغه دی چې د خپل دريځ د روښانه کولو او د مقابل د قانع کولو لپاره متلونه او مثالونه وکاروي، په خبرو اترو کې متلونه او مثالونه راوړل پر عام سړي، عالم، لوی او وړوکي ټولو باندې يو شان اغېز کوي . امام غزالي وايې: هغه څوک چې په سپکوونکي ډول امر بالمعروف کوي داسې دی لکه په (ميتيازو) چې وينه وينځي. ځکه د امر بالمعروف او نهی عن المنکر دا طريقه خلک له دين څخه توري کوي چې ناسم کار دی او کله کله خو د شته منکر څخه هم لوی منکر زېږوي ځکه يې نو د بولو سره تشبيه کړ چې د وينې څخه ډېرې ناپاکې دي.

تاسو لاندې مثال ته هم ځير شي:

يوه عالم د الله پاک د لويې او قدرت په هکله اورېدونکو ته ويل: دا د توت د ونې پاڼې ګورئ! خوند او رنګ يې يو ډول دی، د ورېښمو چينجی يې خوري ورېښم ورڅخه جوړېږي خو غوا او بېزې يې خوري نو سوټې او پچې ورڅخه جوړيږي، هوسۍ يې خوري مسک ورڅخه جوړيږي. بېشکه الله غوره پيدا کوونکی دی.

دې مثال د الله پاک قدرت او لويې پداسې ډول جوته کړه چې د انسان وجدان ويښوي او د زړه تل ته رسيږي، که چيرې يو وينا کوونکی د ايثار او قربانۍ په اړه هر څومره خبرې وکړي، ستاينه يې وکړي اغيز به يې پ ه اورېدونکو دومره نه وي څومره چې د يرموک په جګړه کې د درې اصحابو د قربانۍ عملي او واقعي کيسه اغېز لري. په ځانګړي ډول چې په روانه ژبه او هڅوونکو جملو بيان شي او د کيسې په هغو ځايونو ګوته کېښودل شي چې د انسان زړه او وجدان بيداروي

**ګډ ټکي:**

کله چې داعي بحث پيل کوي پکار ده چې له اتفاقي او منل شويو ټکو پيل وکړي پدې ډول بحث په ارام او سکون سره په بريالي او منطقي ډول پر مخ ځ ي، نوې دريځې چې بڼوا ورته د چا پام نه و پرانستل کيږي ، د ټکر مخه نيول کيږي او د دواړو خواوو تر منځ ښې اړيکې رامنځته کيږي چې د عناد، ضد او تعصب مخه نيسي، خو که چېرې بحث او مناقشه له اختلافي ټکو پيل شي نو له لومړی سره زړونه خيرن کيږي، ضد او عناد لاره کوي او بحث کوونکی يوازې پدې فکر وي چې څرنګه د بل خبره رد او کوټه ثابته کړی.

په اتفاقي ټکو پيل کول په حقيقت کې د تفاهم يو پل جوړول دی . دل کارنيګي وايي: پهمباحثه کې لومړ ی داسې پوښتنې راپورته کړه چې مقابل لوری ورته په (و) ځواب ووايې او د داسې پوښتنو څخه چې هغه ورته په (نه) ځواب وايې ډډه وکړه ځکه د (نه) ټکی داسې غونډۍ ده چې بيا وربان‌دې ختل ډېر سخت دي ، کله چې يو سړی د نه ټکی ووايې بيا هغه د خپلې انا له مخې اړ دی چې پ‍ه هر ډول وي د خپل نظر څخه دفاع وکړي.

وايې چې د يونان حکيم او مشهور فيلسوف سقراط به له همدې طريقې څخه کار اخيست، د اتفاقي پوښتنو په لړی به يې پيل کاوه چې ځواب به يې (و) و، د پوښتنو دا

لړۍ به يې داسې برید ته ورسوله چې مقابل لوری به پداسې څه قانع شو چې لړ مخکې يې نه منل .

**د بحث تړل او پای ته رسول:**

ځيني وخت بحث کوونکی ويني چې دده او مقابل لوري د دريځونو تر منځ ډېر اوږد واټن دی، د دواړو تر منځ پـه داسې اساسي او بنسټيزو شيانو کـې اختلاف دی چې په لږ وخت کې نه حل کيږي يا مقابل لوري ته داسې کس دی چې د هغه سره بحث کول د انرژۍ او وخت ضايع کولو پرته بله ګټه نلري، پدې وخت کې ښه دا ده چې پداسې هوښيارۍ مناقشه وتړل شي چې د کوم طرف د ماتې او برې ځرګندوی نه وي، همدا رنګ د هغه کس سره چې د حق پلټونکی نه وي يا دومره ناپوه وي چې پـه موضوع اصلا نه پوهيږي د بحث دروازه تړل غوره دي.

يو ښوونکي داعي چې د خپل کمونست ملګري سره چې د ښځو د پردې ډېر مخالف و په همدې موضوع په خبرو اترو او بحث کې کيوت ، داعي ته چې د خبرو په منځ کې دا ځرګنده شوه چې اخ تلاف د ښځې د پردې کولو نه اخوا پـه اساسي او بنسټيزو مسايلو کې دی نو په هوښيارۍ يې د بحث د تړلو هوډ وکړ او ورته يې وويل: ته د رياضي ښوونکی يې غواړم ددې پوښتنې ځواب راکړې چې که د دوو کسانو تر منځی د رياضي په اصولو کې اختلاف وي نو د هغوی تر منځ د رياضي په فرعي مسلو کې اتفلق راتلای شي؟ هغه وويل: ښکاره ده چې اتفاق ممکن ندی.

داعي ښوونکي ته وويل : زه او ته همداسې يو، موږ تر هغې د ښځې د حجاب په هکله بحث نشو کولای څو چې په يو لړ اساسي او بنسټيزو شيان و اتفاق او اقرار ونکړو او هغه دا چې الله موجود دی، محمد د هغه ريښتينی استازی دی چې موږ ته يې د شريعت د ښودلو لپاره را استولی دی، کله چې تا پردې خبرو اعتراف وکړ بيا ممکنه ده چې پر نورو فرعي مسلو لکه حجاب باندې بحث وکړو او يوې پايلې ته ورسيږو.

**نه پوهيږم:**

کله چې په بحث کې مقابل لوری کوم داسې څه وواېي چې ته پرې پوه نشې نو په پوښتنه کولو او ځان پوهولو کې هيڅ شرم مه کوه ، که ځان غلی کړې کېدای شي وروسته درته ستونزه پيدا شي خلک به دې بيا ناپـوه وشمېري، ته خبر يې چې ډېر علما بـه يې نه شرمېدل چې وواېي: زه نه پوهېږم .

عبدالرحمن بن ابی ليلی واېي : د پيغمبر پدې جومات کې مې يو سلو او شل اصحاب ليدلي، هر يو به دا خوښوله چې د پوښتنې او فتوا پر مهال دده پر ځای بل ورور ځواب وواېي، کله به د يوه څخه پوښتنه وشوه پوښتنه به د ځواب لپاره ددوی تر منځ له يوه څخه بل ته تله تر دې چې بېرته به لومړي کس ته راغله.

د امام مالک په اړه ويل کيږي چې د هغه څخه د اته څلوېښتو مسل و بـه هکله پوښتنه وشوه هغه د دوه دېرشو په ځواب کې وويل: نه پوهېږم.

عالم بايد خپلو ملګرو ته د (نه پوهېږم) ټکی وښايي او هر وخت چې د کومې پوښتنې په ځواب پوه نشي سمدستي وواېي نه پوهېږم.

پاک وجدان او ويښ ضمير تل سړى دېته اړباسي چې په فتوا او ځواب ويلو کې د بېړې کولو څخه ځان وساتي تر څو خلک په فتنه کې وانه اچوي او د نورو ګناه پخپلو اوږو بار نکړي. ددې څخه لږه وېره هم نده بکار چې ګوندې خلک به ووايې : د فلاني څخه پوښتنه وشوه او هغه يې په ځواب نه پوهېدو.
ابن سعد روايت کوي چې يوه سړي د ابن عمر څخه د يوې مسلې پوښتنه وکړه، هغه ځان غلى کړ او ځواب يې ورنکړ آن تر دې چې خلکو ګومان وکړ چې ابن عمر يې پوښتنه وانه اورېده. سړي وويل: خداى دې پر تا رحم وکړي آيا زما پوښتنه دې وانه اورېده؟ ابن عمر وويل: ولې نه خو تاسو خلک داسې فکر کوئ چې ګوندې الله پاک ستاسو د پوښتنو په هکله زموږ څخه پوښتنه نه کوي، خداى دې دربانديې ورحميږي ته موږ لږ پرېږده چې ستا د پوښتنې په اړه فکر وکړو، که ځواب مو درلود ډېره ښه که نه درته به ووايو چې نه پوهېږم.
يو سړى پيغمبر عليه السلام ته راغى او پوښتنه يې وکړه: اى د الله رسوله! بدترين ځاى کوم يو دى؟ هغه وفرمايل: نه پوهېږم. کله چې جبريل راغى پيغمبر عليه السلام ترې وپوښتل: بد ترين ځاى کوم يو دى؟ هغه وويل: نه پوهېږم تر دې چې د الله څخه پوښتنه وکړم. جبريل لاړ او څه وخت تېر شو بيا راغلو ويې ويل : اى محمده! تا له ما څخه پوښتنه کړې وه چې بد ترين ځاى کوم يو دى او ما له الله څخه پوښتنه وکړه هغه وفرمايل: بد ترين ځاى بازارونه دي.
ابو بکر صديق به د پوښتنو د ځواب به هکله دا جمله ډېره تکراروله چې دا زما نظر دى که سم وي نو د الله لخوا دى او د هغه شکر ادا کوم او که ناسم وي نو زما او د شيطان لخوا دى او د الله څخه يې بخښنه غواړم
د عمر فاروق هغه کيسه ټولو ته معلومه ده چې د منبر پر سر يې خطبه ويله، د ښځو د مهر او د هغې د کموالي په اړتيا يې خبرې کولې ، يوه ښځه ورته راپاڅېده او د قران کريم دا آيت يې ورته ولوست : (وَإِنْ أَرَدتُّمُ اسْتِبْدَالَ زَوْجٍ مَّكَانَ زَوْجٍ وَآتَيْتُمْ إِحْدَاهُنَّ قِنطَارًا فَلاَ تَأْخُذُواْ مِنْهُ شَيْئًا أَتَأْخُذُونَهُ بُهْتَاناً وَإِثْماً مُّبِيناً ) د النساء سورت شلم آيت. ژباړه: که تاسو غواړې چې د يوې ښځې پر ځاى بله ښځه وکړي نو که هغې ته مو ډېر زيات مال ورکړى هم وي هيڅ شى ترې بېرته مه اخلي، آيا تاسو مال په نګى او په ښکاره ګناه کولو سره اخلئ؟
عمر رضى الله عنه په زړورتيا وويل: د ښځې رايه سمه او عمر خطا شو.
هيڅوک بايد پدې خبره چې (زه بشر يم کله خطا کيږم او کله مې نظر سم وي ) د ناپوهۍ او ماتې احساس ونکړي بلکې انصاف دادى چې داسې اعتراف د بحث کوونکى د رېښتيولۍ او اخلاص پياوړى ګواه او دليل دى.
رېښتيا چې حق ته راګرځېدل په باطل کې د وړاندې تللو څخه ډېر ښه او غوره دي

**تعصب مه کوه، خپله غلطي ومنه:**

د دلايلو د شتون سره سره د حق نه منلو ته تعصب وايي . تعصب په حقيقت کې د خپل عقل چې د الله پاک نعمت دى سپکاوى کول دي، مخکې مو هم وويل چې مسلمان د حق پلټونکى دى ، د کوم شخص، رايې او ډلې لپاره تعصب نه کوي نو ته

چې د مسلمان په توګه مناقشه او بحث کوې له تعصب څخه ځان وساته اوتل د حق پر خوا اوسه.
که چېرې یو کس ستا لیکنه، تقریر یا ستا د کار پر دفتر نیوکه وکړي او د هغې نیمګړتیاوې وشماري ته له تعصب څخه کار مه اخله او سمدستي پر هغه ردونه مه کوه او هم د هغه د اعتراضونو په مقابل کې د خپلې لیکني یا دفتر د ښېګړو فهرست مه بږده، بلکې پرېږده چې هغه خپلې خبرې پای ته ورسوي بیا ورڅخه د خبرو اجازه وغواړه، کوښښ وکړه چې هغه غلطې ومنې بیا په کراره خپلې ښېګړې یادې کړه د ښېګې په ډول ته کولای شې ه غه ته داسې ووایې:
امانت او حق منل ما دېته اړ کوي چې خپله تېروتنه ومنم خو امانت او حق ما ته دا امر هم کوي چې ددې موضوع بشپړ انځور ستا په وړاندې کېږدم تر څو حق ښکاره شي.
دغه ډول بحث کول تا خلکو ته د یو ه حق ویونکي په څېر وروپېژني د تعصب څخه دې لرې ساتې او خلکو ته ستا د فکر او رایې په رسولو کې له تاسره مرسته کوې انسان بشر دی کله رسیږي او کله خطا کیږي الله پاک د رسولانو او نبیانو پرته هېڅوک د ګناه څخه معصوم ندی ګرځولی . طبیعی ده چې په مناقشو او بحثونو کې یو انسان هم له غلطۍ خلاص ندی خو هوښیار هغه دی چې د حق پر څرګندېدو خپله تېروتنه ومني او د هغه چا مننه وکړي چې دده لارښوونه یې وکړه . څوک چې پر خپلو غلطیو باندې پر اعتراف کولو روږدی نه وي هغه نةخپله غلطي منل ستونزمن کار دی پـه ځانګړي ډول د ډېرو خلکو په وړ اندې. خپله تېروتنه منل غښتلی شخصیت، اخلاقي زړورتیا او د خپل نفـس سره مجاهدې ته اړتیا لري خ و کله چې انسان ورسره روږدی شي بیا ورڅخ ه داسې خوند اخلي لکه د کامیابۍ څخه یې چې اخلي. د خپلې غلطۍ منل د ګومان پر خلاف تېروتونکي نةدرناوی او احترام وربخښي خو پخپله غلطۍ اصرار کول په خلکو کې د هغه درناوی له منځه وړي او حتی د خپل ضمیر په وړاندې یې هم قدر کمیږي. پیغمبر علیه السلام فرمایي: کل بني ادم خطاء و خیر الخطایین التوابون. ژباړه: ټول انسانان خطا کېدونکي دي خو بهتر یکې هغه څوک دی چې توبه وباسي.

**امانت او توثیق:**
د بحـث کوونکي لپاره ضروري ده چې د نظر او فکر بیانولو پر مهال دا څرګنده کړې چې نظر او فکر یې له کوم مرجع او مصدر څخه را اخیستی او هم د دلیل ویلو او اقتباس کولو پر وخت دې خبرې ته پوره ځیر اوسې
رایه، نظر او دلایل که څه هم د قرن کریم آیتونه، نبوي احادیث یا د علماو او پوهانو ویناوې وي چې مرجع او ماخذ یې په ګوته نشي پر اورېدونکو یې اغېز کمیږي.
بحث کوونکي ته ښایي چې د ضعیفه روایتونو او کمزورو د لیلونو د ویلو څخه ډډه وکړي، دوه غښتلي دلیلونه تر دې غوره دي چې درېم داسې دلېل ورسره زیات کړې چې د هغې ردېدل ممکن وي. کله چې د یوې رایې په دلیلونو کې د پوښتنې ځای پیدا شي د هغه لوري دریځ ته ډېر زیان رسوي په ځانګړي ډول د عامو خلکو په مجلس کې نو د حقیقت درناوی کوه ، د معلوماتو په وړاندې کولو کې له علمي امانت او

ریښتینولۍ څخه کار اخله، د خپلې ګټې لپاره عبارتونه د خپل سیاق او مناسبت څخه مه وباسه ځکه چې دا چاره ستا په دیانت کې نیمګړتیا پیدا کوي او د دروغو خور ده، او که څوک درباندې پوه شي نو ملنډې او ټوکې به در پورې وکړي او مسخره به دې کړي.
د هغو کسانو پر ویناو هم دلیل مه نیسه چې د هغوی په علم او امانت ډاډه نه یې. الله پاک فرمایي: (یاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَ نُوا إِن جَاءَكُمْ فَاسِقٌ بِنَبَإٍ فَتَبَيَّنُوا أَن تُصِيبُوا قَوْمًا بِجَهَالَةٍ فَتُصْبِحُوا عَلَى مَا فَعَلْتُمْ نَادِمِينَ) د حجرات سورت شپږم آیت. ژباړه: ای مومنانو! که چیرې کوم فاسق تاسې ته یو خبر راوړي نو ښه یې وپلټې، هسې نه چې په ناپوهۍ سره کوم قوم ته تاوان ورسوئ او بیا به خپلو کړو پښېمانه واست.

**د مقابل لوري درناوی:**

داعي او بحث کوونکي ته لازمه ده چې د مقابل لوري که هغه مسلمان وي او که نامسلمان درناوی او احترام وکړي، زموږ دین موږ ته امر کوي چې د خلکو د شان سره سم د هغوی قدر او عزت وکړو. که چیرې زموږ بحث د یوه مهم او مشر سړي یا داسې کس سره وي چې په سیاسي ، اقتصادي یا اجتما عي لحاظ د لوړ منصب خاوند وي نو اړینه ده چې د هغه درناوی وشي که څه هم هغه یهودي نصراني یا بت پرست وي. د هغه د منصب او رتبې وړ ټکي وکاروو او د هغه د ښېګړو یادوونه وکړو، دا کار نه د مسلمانۍ ضد دی او نه د امر بالمعروف او نهی عن المنکر سره مخالف دی. البته پام مو وي چې پدې پلمه د چاپلوسۍ او نفاق لار غوره نکړو او د هغوی په ستاینه کې له دروغو او مبالغې څخه کار وانخلو.
وایې چې یو سړي هارون الرشید ته راغی او ویې ویل: ای امیرالمومنین! زه تاته وعظ کوم چې سختي به پکې وي خو ته یې وزغمه. هارون الرشید وویل: الله پاک له تا څخه غوره کس ته، له ما څخه بدتر سړي ته په نرمۍ کولو امر کړی، خپل پیغمبر موسی یې چې فرعون ته لیږه ورته یې وفرمایل : (فَقُولَا لَهُ قَوْلًا لَّيِّنًا لَّعَلَّهُ يَتَذَكَّرُ أَوْ يَخْشَىٰ) د طه سورت څلورڅلوېښتم آیت. ژباړه: په نرمۍ ورسره خبره وکړئ کېدای شي چې خبره ومني او یا وډار شي.
تاسو د عتبه بن ربیعه مشرک کیسه کې ولوستل چې پیغمبر علیه السلام د احترام له امله هغه ته په کنیه نوم (ابوالولید) او د هغه د منصب وړ ټکو خطاب کاوه، فرمایل یې : قل یا ابا الولید اسمع. ژباړه : ابوالولیده وایه زه اورم.
که د یوه داسې سړي سره بحث کوې چې سم یې نه پیژنې نو په درانه نوم ورته غږ کوه لکه وروره، کاکا، استاده او هم د هغه ځای د عرف خیال ساته.
د ابراهیم علیه السلام او د هغه د کافر پلار خبرې اترې چې په قران کریم کې راغلي د مناقشې ډېر آداب رانغاړي، وینو چې ابراهیم علیه السلام هره جمله د (یا ابت) یانې ای پلاره په ټکي پیل کوی چې له یوې خوا د ابراهیم علیه السلام لوړ ادب په ګوته کوي او له بل پلوه د ځویولۍ او پلارولۍ ه غې غښتلې او له مینې ډکې اړیکې ته اشاره کوي چې ددې مقام مصلحت یې غوښتنه کوي.
ګټوره به وي که بحث کوونکی د مقابل لوري سم دلایل، غوره رایه او نوي معلومات په لیوالتیا او ورین تندي استقبال کړي او ویې مني او د خپلو خبرو بهبهیر کې د هغه

په یو شمېر کره جملو او خبرو باندې دلیل ونیسي، دا به د مقابل لوري سینه ستا د دلایلو منلو ته پرانیزي او د مناقشې فضا به خوږه او بې تعصبه کړي. ښه به وي چې د بحث په بهیر کې دواړه لوري د یو بل پر علمي امانت او نیت باندې ښه باور ولرئ تر څو یو د بل له خبرو ناسم مطلب او معنا وانخلي.
د بحث په بهیر کې مقابل لوري ته داسې ټکي کارول چې د هغه نیم ګړتیا او ناپوهي څرګندوي پدې نیت چې د هغه سپکاوی وشي، ناروا او ناسم کار دی په ځانګړي ډول چې هغه عالم او د خلکو پیشوا وي، خو که د مقابل لوري نیمګړتیا څرګندول د مسلمانانو د مصلحت او د حق د ښکاره کولو لپاره وي نو بیا واجب دي . د یوه چا د پرېشانۍ او ماتې له امله حق نه ښکاره کول سم کار ندی.
د بدعتیانو، ګمراهانو او هغو کسانو چې علما ندي او د علماو پېښې کوي ، ناپوهي او نیمګړتیا د شرعي دلایلو په رڼا کې بربنډول پکار دي نه په سپکو او سپورو ویلو. خوږه ژبه خلک راماتوي او سپکه ژبه خلک شړي.
رسول الله یوه اعرابي ته د نصیحت په مهال ووېل: د خدای وو‌پرېږه! که څوک ستا د عیبونو په یادولو تاته پېغور درکړي ته د هغه عیبونه ورته مه یادوه او هیچا ته کنځل مه کوه. دا اعرابي وایي: تر هغه وروسته مې چاته کنځل ونکړل.
په یوه حدیث کې راغلي چې رسول الله به کنځلې نه کولې، لعنت او سپورې سپکې به یې نه ویلې. په بل ځای کې رسول الله فرمایي: مسلمان د مسلمنان ورور دی، ظلم به پرې نه کوي او سپکاوی به یې نه کوي ، یوه مسلمان ته همدومره ګناه بس ده چې د بل مسلمان سپکاوی وکړي.

**نظر او د نظر خاوند:**

په ټولیز ډول په بحثونو کې په نظر او رایې بحث او خبرې پکار وي ، که چیرې د نظر او رایې د نقد یا تایید پر ځای د نظر او رایې پر خاوند او د هغه پر شخصیت او کړنو بحث وکړو نو زموږ بحث به په ناندریو واوړي.
البته په ځینو ځایونو کې ددې اړتیا پیښیږي چې د نظر د خاوند په شخصیت او اعمالو بحث وشي، دغه اړتیا چې ډېره کمه پیښیږي پر م هال یې باید اسلامي او شرعي اداب مراعات شي الله فرمایي : (وَلَا تَلْمِزُوا أَنفُسَكُمْ وَلَا تَنَابَزُوا بِالْأَلْقَابِ ) د حجرات سورت یوولسم آیت .ژباړه: د یو بل بد مه یادو ئ او مه یو بل ته بد لقبونه ږدئ.
عبدالله بن مسعود له پیغمبر څخه روایت کوي فرمایي : لیس المومن بطعان ولا لعان ولا فاحش ولا بذ ئ. ژباړه: مومن په خلکو بد ویونکی، لعنت ویونکی، فحش او سپکې ویونکی نه وي.
پیغمبرعلیه السلام په بل حدیث کې فرمایي : سباب المسلم فسق وقتال کفر . ژباړه: مسلمان ته کنځل کول فسق او وژل یې کفر دی.
د جابر څخه روایت دی چې رسول ا الله فرمايي: ان الله لایحب الفاحش المتفحش، ولا الصیاح فی الاسواق . ژباړه: الله فاحش او فحش ویونکی او په بازار کې چغې وهونکی انسان نه خوښوي.

هغه شیان چې نظر او رایه په زړه پورې او د منلو وړ ګرځوي دا دي چې د نظر خاوند باید پخپله رایه قانع، د هغې په خپرولو حریص او په هر ځای او هر وخت کې پخپله پر هغې ټینګ عمل کوونکی وي. تر څو چې د نظر خاوند پخپل نظر او رایه د زړه له کومې پوه نشي او سر یې پرې خلاص نشي د هغې څخه دفاع نشي کولای، ددې تر څنګ بحث کوونکی باید د خلکو د رایو پورې ټوکې ونکړي بلکې د یوه ریښتوني نصیحت کوونکي په توګه خبرې وکړي د ځان ښودنې او تکبر څخه ډډه وکړي او د خلکو سره پداسې اخلاص او ادب خپل نظر شریک کړي لکه دی چې د هغوی له ډلې څخه یوتن وي . پیغمبر علیه السلام به خپل قوم ته فرمایل: ان الراید لایکذب اهله، والله لو کذبت الناس جمیعا ماکذبتکم ولو ضللت الناس جمی عا ما ضللتکم. ژباړه : د کور مشر خپلې کورنۍ ته دروغ نه وایي . په الله سوګند که ټول خلک دروغ ووایې هم زه به دروغ ونه وایم او که ټول خلک ګمراه شي هم زه به تاسې ګمراه نه کړم.

**هغه څه چې غوره دي:**

الله پاک خپل پیغمبر ته ښوونه کوي چې څنګه به خلک دین ته رابلي : فرمایي: (ادْعُ إِلِى سَبِيلِ رَبِّكَ بِالْحِكْمَةِ وَالْمَوْعِظَةِ الْحَسَنَةِ وَجَادِلْهُم بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ ) د نحل سورت یوسلو پنځه ویشتم آیت. ژباړه: د خپل رب د لار په لور په حکمت او نیکې طریقې بلنه وکړه، او په خورا نېکه او غوره توګه ورته خپل هدف وړاندې کړه.

په بل ځای کې خپلو استازو موسی او هارون ته فرمایي : (اذْهَبْ أَنتَ وَأَخُوكَ بِآيَاتِي وَلَا تَنِيَا فِي ذِكْرِي اذْهَبَا إِلَى فِرْعَوْنَ إِنَّهُ طَغَى فَقُولَا لَهُ قَوْلًا لَّيِّنًا لَّعَلَّهُ يَتَذَكَّرُ أَ وْ يَخْشَى) د طه سورت ۴۲، ۴۳ او څلورڅلویښتم آیت. ژباړه: ته او ستا ورور زما له نښانو سره ولاړ شي خو پام چې زما په یادوونه کې سستي ونه کړي، ورځې دواړه فرعون ته ورشي هغه خپل سرې شوی دی په نرمۍ ورسره خبره وکړ ئ کېدای شي چې خبره ومني یا وډار شي.

الله پاک خپل غوره بنده او استازي محمد علیه السلام ته پدې امر کوی چ ې د خلکو سره په ښه ډول بحث او مباحثه کوه پداسې حال کې چې هغوی کفارو دده سره بدي کوله، دی یې دروغژن باله او ده ته یې ضرر رساوه.

دا موسی او هارون د الله پاک استازي دي او الله پاک یې باغي فرعون ته لیږي او د نرمو خبرو امر ورته کوي تر څو فرعون د الله څخه وویریږي او د الله لور ته راوګرځي نو آیا موږ ددې لویو پیغمبرانو څخه زیات قدرمن یو؟ آیا زموږ مقابل لوری د فرعون او نورو کافرانو څخه زیات سپک دی؟

داعي او بحث کوونکی به په نرمۍ او ارامۍ سره بحث کوي. هغه شیان چې د مقابل لوري زړه نرموي او د جادو په څېر اغېزه کوي دادي چې ورته ووایي : اجازه راکړه چې پدې موضوع کې خپل نظر وړاندې کړو کېدای شي زه په غلطه اوسم که زما نظر ناسم و نو ته به زما نظر تصحیح کړې زه به ستا مننندوی وم.

د قران دا ټکي چې (التي هی احسن) ددې غوښتنه کوي چې د خلکو نظر ته بې عقلي ونه وایو، او د هغوی احترام وکړو: وَلاَ تَسُبُّواْ الَّذِينَ يَدْعُونَ مِن دُونِ اللّهِ فَيَسُبُّواْ اللّهَ

عَدْوًا بِغَيْرِ عِلْمٍ ژباړه: هغو ځیزونو ته کنځل مه کو ئ چې کافران یې پرته له الله نه رابلي، هسې نه چې کافران د کینې او ظلم له کبله په ناپوهی الله پاک ته کنځل وکړي.

**چیلنج او چوپ کول:**

د مناقشې او بحث په بهیر کې مقابل ته چیلنج ورکول یانې هغه غوسه کول اوراپارول سمه لار نده که څه هم تاسره غوڅ او پیاوړي دلایل وي، دا لاره مه غوره کوه ځکه چې د میدان له ګټلو څخه د زوړونو ګټل ډېر ارزښتمن دي، پر دې سربېره پدې طریقه ښایې ته مقابل لوری چوپ او بې ځوابه کړې خو د هغه قناعت نشې ترلاسه کولای یا دا چې ستا په دلایلو به هغه د خپل ځان سره قان ع شي خو ستا په وړاندې اعتراف ونکوي خو که ته نرمه او دوستانه لار ونیسې نو هغه که اوس نه وي په راتلونکې کې خامخا له تا سره قانع او همغږی کیږي نو کله چې د بحث پر مهال خپل دلایل روښانه کړې مقابل لوری پرېږده ، که څه هم هغه اوس پر خپل توافق اعتراف ونکړ خو ددې هیله شته چې د وخت پر تېرېدو قانع شي او څه موده وروسته هغه خپله له دې نظر څخه دفاع پیل کړي، وخت ډېر ارزښتنمن دی او د دوا بهڅېر د علاج یوه برخه ده.

که کله ته له یوې مباح ثې اومناقشې بریالی راووځې نو متواضع او خاکساری اوسه تر څو د مقابل لوري احساسات زخمي نکړې د خپل نیت او اخلاص څارنه کوه چې ریا او تکبر دې وانخلي او ثواب دې له منځه لاړ نشي.

تل په یاد لره چې د بحث موخه د حق ښکاره کېدل دی برابره خبره ده چې هغه ستا په خوله وي او که ستا د ملګرو ، د خلکو د چوپ کولو او غلي کولو څخه ډډه کوه ځکه دا د مقابل لوري د لارښوونې وسیله نده بلکې پدې سره هغه نور هم ضدي او دښمن کیږي په ځانګړي ډول د ډېرو خلکو په منځ کې. البته یو څه داسې ځایونه شته چې هلته د مقابل لوري د چوپ او غلي کولو پرته بله چاره نشته، د بېلګې په ډول یو سړی چې ناپاکې ارادې لري ، پر حق پوهیږي خو بیا هم د ښمني کوي، د هر دلیل څخه انکار کوي او درناوي ورته نلري، یو څه نوي ځوانان یې راغونډ کړي او په هغوی کې د دین په هکله شکونه او شبهات خپروي ، د داسې سړي سره غوره لاره داده چې په دلایلو سره چوپ، شرمنده او د خلکو په منځ کې سپک کړای شي تر څو د فساد لاره بنده شي .

همدا رنګ که څوک یوه حق نظر ته سپکاوی کوي ، د هغې حقانیت ته زیان رسوي او د ادب له پولو بهر وځي نو د جزا په ډول دې هغه د غوڅو دلایلو په ویلو چوپ او غلی کړای شي ځکه دی د باطل تمثیل کوي او باطل باید د خلکو په وړاندې سپک شي. الله پاک موږ ته آن د کفارو سره هم د نرمۍ کولو امر کوي خو کله چې هغوی بغاوت وکړي او نرمي کول زموږ ضعف او ناتواني وګڼي نو بیا سختي د هغوی دوا ده، الله فرمایي: (وَلَا تُجَادِلُوا أَهْلَ الْكِتَابِ إِ لَّا بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ إِلَّا الَّذِينَ ظَلَمُوا مِنْهُمْ ) د نمل سورت شپږڅلوېښتم آیت . ژباړه: له اهل کتابو سره د غوره طریقې پرته په بل ډول بحث مه کوئ مګر له هغو سره چې بې انصافي یې کړې وي.

یوه داعي چې د ښځو په وړاندې د تعدد الزوجات یانې د ګڼو ښ ځو د ر وا کېدو په هکله خبرې وکړې، خپله موضوع یې ښه وڅېړله، غښتلي او قانع کوونکي دلایل یې

وړاندې کړل، په عقل او نقل یې استدلال وکړ خو یو څو ښځې چې ضد اخیستې وې نااندرۍ وهل یې پیل کړل، داعي هوډ وکړ چې په بل ډول یې چوپ کړي، ویې ویل: په حقیقت کې یوه سړي ته د څو ښځو د نکاح کېدلو ډېره د ښځو پر غاړه ده . هغوی حیرانې شوې او دا خبره یې بابېزه وګڼله نو داعي ورته وویل: که هره ښځه دا خبره رد کړي چې دا دې د کوم سړي دوهمه ښځه (بنه) شي نو هیڅکله به د کوم سړي په نکاح کې دوه ښځې یو ځای نشي، پدې سره ټولې ښځې بې ځوابه پاتې شوې
همدا ډول یو ملحد چې د خدای د وجود څخه منکر او په تصادف او طبیعت یې باور درلود د یوه مسلمان سره بحث کاوه، هغه عقیده درلوده چې انسانان بې له کوم خالقه په تصادفي ډول منځته راغلي، کله چې مباحثه او مناقشه اوږده شوه مسلمان ورته وویل چې زه او ته به سبا په فلاني ځای کې د خلکو په وړاندې بحث کوو او هغوی به پرېکړه کوي.
سبا ته مسلمان د ټاکلي وخت څخه وروسته راغلو ، ملحد او شتو خلکو هغه ګرم کړ چې ناوخته راغلې او وعده یې ماته کړې، مسلمان وویل: تاسو لومړی زما د ناوخته راتګ عذر واورئ، تاسو پوهېږئ چې زما کور د سیند بلې غاړې ته دی ، زه چې سهار له کوره راووتم نو بېړۍ را څخه تللې وه د سیند پر غاړه ودرېدم او پدې فکر کې وم چې څنګه به بلې غاړې ته اوړم، څه درنګ وروسته مې وکتل چې یوه ونه د تصادف له مخې راماته شوه او پخپله تختې تختې شوه، تختې سره راغونډې شوې او بې د کوم ترکاڼ څخه هغه سره میخ شوې او بېړۍ ورڅخه جوړه شوه، زه په بېړۍ کې کېناستم دلته راغلم نو ځکه پر ما ناوخته شو.
ملحد ورپورې وخندل او ویې ویل : نه دروغ وایې د ونې څخه پخپل سر بېړۍ جوړېدل یو ناشونی کار دی. مسلمان وویل: کل چې ستا عقل په تصادفي ډول د یوې بېړۍ جوړېدل نه مني نو دا څنګه مني چې یوه لویه او د دقیق نظام لرونکې نړۍ دې په تصادفي ډول پخپل سر منځته راشي.
ملحد خجالت او بې ځوابه شو.
په همدې توګه یو ځوان د یوه داعي او بلونکي څخه پوښتنه وکړه : بخښنه غواړم استاده! ته خو ځوان یې نو ږیره دې ولې پرېښې؟
هغه ورته وویل: تا ولې خریلې ده؟ ځوان ځواب ورکړ: زه ازاد یم . داعي وویل : زه هم غلام نه یم.
ځوان بیا وویل : ستا ږیره پرېښودل یو نا اشنا کار دی . داعي وویل: نا اشنا خو یې خریيل دي، ما خپلې مخې ته پرېښې چې لویه شي ستا نه باید پوښتنه وشي چې ولې یې نه پرېږدې ؟ ځوان وویل : د بدن وېښتان نه ټول خریيل کېږي او نه خو ټول پرېښودل کیږي . داعي وویل : لکه څنګه ؟ ځوان وویل : لکه د سر وېښتان باید پرېښودل شی او نور چې په زړه پورې ندی وخریيل شي
داعي ځواب ورکړ: ښه ده نو زه غواړم چې زما مخ د سر په شان وي او نور خلک غواړی چې مخ یې د بل ځای په څېر وي.
حاضرو خلکو وخندل او ځوان پیکه شو.
یو سړی چې د ښځو د پردې مخالف و تل به یې د مسلمانانو د وروسته والي په پلمه ویل: خلک سپوږمۍ ته وختل او موږ تر اوسه د ښځو په پردې کې اخته یو. چا ورته

وويل: د ښځو د پردې د سپوږمۍ سر څه اړه ده؟ هغه وويل : پرده د ترقی او پرمختګ په وړاندې یو خنډ دی. سړي ورته وويل: نو څنګه! بهاسلامي هيوادونو کې ښې ډېرې بې پردې ښځې شته خو یوه هم سپوږمۍ ته ونه ختله.
که چېرې یو ظالم او بد سړی د عامو خلکو پر وړاندې په ځانګړي ډول چې هلته دينې عالم موجود وي پر حق تېری او د حق سپکاوی وکړي، پر عالم واجب دي چې د ځان او مال پروا ونکړي او د حق څخه دفاع وکړي او د تېري کوونکي خوله بنده کړي، پداسې مهال غلي کېناستل ګناه ده او د حق څخه د دفاع په نه کولو عامو خلکو ته حق د باطل په څېر بهنظر ورځي.
د ستر تابعي سعيد بن جبير د حق د وينا او زړورتيا کيسه چې د ظالم مسلمان حجاج بن یوسف لخوا د بغاوت په تور نيول شوی و ستاسې مخې ته ږدو.
حجاج سعيد بن جبير بندي کړ او ورته یې وويل: ته څوک یې؟
سعيد وويل: زه د جبير ځوی سعيد یم.
ججاج وويل: بلکې ته د کسير ځوی شقي یې.
سعيد ورته وويل: زما مور زما او زما د پلار پر نومونو له تا ښه پوهېده.
حجاج وويل: ته او ستا مور دواړه بدمرغه یاست.
سعيد وويل: پر غيبو ته نه بلکې الله پاک پوهيږي.
حجاج وويل: زه به پدې نړۍ ستا له بدن څخه لمبې پورته کړم.
سعيد وويل: که زه پوهېدای چې دا کار ستا په لاس کې دی ته به مې په خدایې نیولی وې.
بیا حجاج وويل: د محمد په هکله څه وايې؟
سعيد وويل: هغه د رحمت پيغمبر او د لارښوونې امام و.
حجاج وويل: د علي په هکله څه وايې؟ هغه په دوزخ کې دی که په جنت کې؟
سعيد وويل: که چېرې زه جنت ته ننوتی وای نو ما به یې خلک هم پيژندل.
حجاج وويل: د خلفاو بههکله څه وایې؟
سعيد وويل: زه د هغوی ذمه وار نه یم.
حجاج وويل: څوک دې پکې ډېر خوښيږي؟
سعيد وويل: چا چې خدای ډېر خوشاله کړی وي.
حجاج بيا وويل: چا خدای ډېر خوشاله کړی؟
سعيد وويل: پدې خدای بوهيږي، د هغوی پټې او ښکاره خدای ته معلومې دي.
حجاج وويل: ښه به دا وي چې ريښتيا راته ووایې.
سعيد وويل: که ته زما بدې راځې هم دروغ درته نه وايم.
حجاج وويل: ولې خاندې؟
سعيد وويل: خلک ولې خاندي پداسې حال کې چې له خټې پيدا شوي او خټې په اور سوځي.
حجاج وويل: موږ ولې خاندو؟
سعيد وويل: زړونه برابر ندي.
بیا حجاج د سولی درولو او د سعید د ويستلو امر وکړ.
سعيد په خندا راووت حجاج بيا وغوښت او ويې پوښته چې ولې خاندې؟

سعید وویل: د الله په وړاندې ستا پر بې پروایی او د الله پر حلم چې تاته یې کوي.
حجاج وویل: تباه شې سعیده.
سعید وویل: تباه هغه څوک دي چې د جنت څخه لرې او دوزخ ته ننویستل شي.
حجاج وویل: په څه ډول دې ووژنم سعیده! ته یې غوره کړه.
سعید وویل: ته یې د خپل ځان لپاره غوره کړه، په‌الله سوګند په کوم ډول چې دې زه ووژلم د قیامت په ورځ به دې الله پاک هماغسې ووژني.
حجاج وویل: آیا غواړې چې بخښنه درته وکړم.
سعید وویل: بخښنه د الله څخه غواړم او ستا لپاره کومه پلمه او خلاصی نشته.
بیا حجاج خپلو جلادانو ته امر وکړ او هغه یې په بې رحمانه ډول په شهادت ورساوه.

**مخالفت او مینه:**

د نظر او راېې اختلاف کله کله آن د ملګرو تر منځ دوستي او مینه له منځه وړي نو زیار وباسه چې داسې ونشي، د خپل ورور او ملګري خوشالي او مینه هیڅ وخت له یامه مه غورځوه د هغه کور ته ورځه د خوشالیو مبارکي ورکړه ، ډالۍ ورکړه ، د هغه د ښو اړخونو ستاینه وکړه او د هغه د ښو خویونو یادوونه وکړه.
مناقشه او بحث اکثره په زړونو او مغزو بدې اغېزې لري ، د بحث پر مهال دې بد اغېز ته ځیر اوسه او ورځخه ډډه وکړه او هیڅکله چا ته خپله دښمني مه اعلانوه.

**پایلي ته رسېدل:**

له خبرو خبرې پیدا کیږي، ډېر ځلي بحثونه له ټاکلي موضوع څخه بلې خوا ته وځي، خبرې اترې نورو داسې مسایلو ته‌ځي چې د اصل بحث سره تړاو نلري، کله چې وپوهېږې بحث له ټاکلي موضوع څخه وځي زیار وباسه چې بحث اصل ي موضوع ته راولې پدې ته کولای شې چې له بحث کولو مېوه لاس ته‌راوړې، تل د بحث لپاره پولې ټاکه تر څو له هغې بریدونو ونه وځي او بې ځایه د بحث اوږدېدل د وخت د ضایع کېدو لامل نشي.
غوره به وي که د بحث او مناقشې په پای کې خپ لې خبرې په څو لنډو جملو کې راغونډې او د خلکو په وړاندې یې کېږدې ځکه چې خبرې اوږدې شي نو بی ا د انسان په مغزو کې ټولې نه پاتې کیږي.

**غوسه مه کوه:**

که له بحث او مناقشې وروسته مقابل لوری تاسره توافق او قناعت ونه کړی نو غوسه کېږه مه ، ددې کوښښ مه کوه چې خپل نظر که څه هم تاته حق ښکاري په خلکو په زور ومنې ځکه چې (لا اکراه فی الدین ) د بقرې سورت دوه سوه شپږپنځوسم آیت. ژباړه: په دین کې زور نشته.
دین د قناعت ځیز دی نو ته خو په طریق اولی خپل نظر په چا نشې منلی
د مدینې اصحابو چې د پیغمبر څخه کوم احادیث روایت کړي د هغې احادیثو په پوهه او روایت کې امام مالک تر ټولو مخکې او د زیات اعتماد وړ دی ، دې ستر عالم د حجاز د محدثینو قوي احادیث، د اصحابو اقوال او د تابعینو فتواګانې په الموطا نومې

کتاب کې راجمع او د فقهي موضوعاتو له مخې يې په ښه ډول ترتيب کړ ي، دا کتاب د امام مالک د څلوېښتو کلونو د هڅو او زيار نتيجه وه چې د وخت اويا عالمانو وړباندې توافق کړی و خو ددې سره سره هم کله چې د وخت خليفه منصور هوډ وکړ چې دا کتاب د شاهي فرمان سره يو ځای ښارونو ته وليږي تر څو ټول خلک یوازې د حديثو په همدې کتاب عمل وکړي او د اختلاف مخه ونيول شي نو امام مالک يې کلک مخالفت وکړ او ويې ويل: ای امير المومنينه! دا کار ځکه مه کوه چې خلکو ته د پيغمبر احاديث او روايات مخکې رسېدلي او هر قام ته چې کوم حديثونه وړومبی رسېدلي پر هغې يې عمل کول پيل کړي، اوس خلک پرېږده چې په هماغو حديثونو باندې عمل وکړي، خليفه چې دا واورېدل د امام خبره يې ومنله.

د عمر بن الخطاب د خلافت پر مه‌ال عبدالله بن مسعود د هغه والي و، د دوی دواړو تر منځ په يو لړ مسلو اختلاف و خو ايا امير المومنين خپل والي د خپلې رايې منلو ته اړ کړ؟ نه . آيا د والي د مخالفت له امله پر هغه غوسه شو؟ نه دا يو کار هم ونشو. ابن القيم ليکلي چې ابن مسعود د عمر بن الخطاب سره په نزدې سلو مسلو کې اختلاف درلود.

کل چې داسې ده نو زه او ته څنګه کولای شو چې په فرعي مسلو کې پر خلکو غوسه شو او خپل نظر منلو ته يې اړ کړو پداسې حال کې چې عمر بن الخطاب او امام مالک دا کار ندی کړی.

**له قناعت وروسته هم مخالفت:**

دا هيله مه کوه چې ټول خلک به تا سره همغږي او ستا په لا ر روان شي که څه هم ته په حقه يې ، دلايل دې وړاندې کړي او خلکو د قناعت سر هم خوځولی ځکه چې انسان په طبيعت او مزاج کې د ډېرو زياتو لاملونو لاس دی چې يو له هغې څخه د انسان خواهشات او هوس دی ، کله چې هوس د انسان په سر سپور شي بيا نه دليل اوري او نه منطق پيژني.

ددې خبرې د ريښتينولۍ پياوړی دليل د پيغمبرانو سره د هغوی د قومونو د مخالفت کيسې دي، تاسو وينې چې ابراهيم عليه السلام خپل قوم چې د بتانو عبادت يې کاوه د شرک څخه منع کړ ، په خبرو او عمل يې ورته دا ثابته کړه چې بتان د عبادت وړ ندي ځکه چې د انسان په لاسو جوړ شوي ، عقل نلري او له ځان څخه ضرر نشي لرې کولای. هغوی په زړه کې قانع او پوه شول چې ظالمان دي، له شرمه يې سرونه ښکته واچول خو آيا په توحيد يې اعتراف وکړ؟ هر گز نه بلکې هوډ يې وکړ چې ابراهيم عليه السلام په اور کې واچوي او ويې وژني. دا هغه کيسه ده چې د تاريخ په اوږدو کې تکرار شوې او بيا هم تکراريږي.

همدا راز يوسف عليه السلام د مصر د پاچا د ښځې تورونه په غوڅو دلايلو رد کړل خو هغوی د اعتراف سره سره بيا هم يوسف زندان ته ولیږه.

موسی عليه السلام فرعون او د هغه قوم ته څرګندې معجزې وړاندې کړه ، هغوی پوه شول چې موسی د الله پاک ريښتينی استازی دی خو بيا يې هم د ضد، عناد او تکبر له مخې د حق څخه مخ واړاوه ، الله پاک فرمايي : (وَجَحَدُوا بِهَا وَاسْتَيْقَنَتْهَا أَنفُسُهُمْ ظُلْمًا وَعُلُوًّا فَانظُرْ كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الْمُفْسِدِينَ ) د نمل سورت څوارلسم آيت .

ژباړه: د ظلم او غرور له کبله يې ترې انکار وکړ سره له دې چې زړونه پرې ښه باوري شوې و، نو وګوره چې د مفسدانو پای څنګه وه.

**کله چې دلایل بې اغېزې شي:**

ځنې وخت دلیل او منطق بې اغېزې شي خو ښېګړه او مینه لاره پرانیزي پدې وخت کې به د دلیل لخته ګوزاره کړې او د محبت بیرغ به پر اوړو کړې چې میدان‌وګټې.
د عایشې رضی الله عنها څخه روایت دی چې رسول الله فرمایي : ان الرفق لایکون في شي ء الا زانه ، ولاینزع من شی ء لا شانه. ژباړه: په هر شي کې چې نرمي وي هغه ښکلې کوي او په کوم شی کې چې نرمي نه وي هغه نیمګړی کوي ، په بل روایت کې فرمایې: ان الله رفیق یحب الرفق ، و یعطي علی الرفق ما لایعطي علی العنف و ما لایعطي علی ما سواه . ژباړه: الله پاک نرمي کوونکی دی او نرمي خوښوي، په نرمۍ هغه څه ورکوي چې په سختۍ یې نه ورکوي.
جریر بن عبدالله وايي چې رسول الله فرمايي : من یحرم الرفق یحرم الخیر کله .
ژباړه: څوک چې د نرمۍ څخه بې برخې کړای شو هغه د ټولو ښېګړو څخه محروم شو.
ابو موسی اشعري وايي : رسول الله به چې کله څوک د کوم کار لپاره بهر لیږه نو داسې امر به يې ورته کاوه چې : بشروا ولاتنفروا یسروا ولاتعسرو . ژباړه: زېرې ورکړې او خلک مه متنفر کوئ، اساني وکړئ او سختي مه کوئ.

**د (زه) او (ما) ټکی مه کاروه:**

داعي ته ښايي چې د زه او ما ټکي له کارولو څخه ډډه وکړي لکه چې وايي : ما داسې او داسې وکړل. زه غواړم تاسو پدې پوه کړم.
دا ډول ټکي کارول د خپل ځان د ستاینې ځرګندونه کوي او زیاتره یې هغه خلک کاروي چې ځان ښودونکي او ریاکار وي . له بل پلوه دغه راز جملې پر مخاطب او اورېدونکي باندې منفي اغېز لري او د هغوی په زړه کې کرکه راپاروي ځکه چې هر څوک هغه انسان بد ګڼي چې پر نورو ځان پورته ګڼي او ورته د ناپوه نسبت کوي.
غوره دا ده چې داسې ټکي وکارول شي چې د ځان ښودنې او تکبر بوی ترې نه راځي لکه د پوهانو تجربو دا جوته کړې ده چې دا نظر سم دی یا فلانی عالم پدې موضوع کې دا نظر ورکړی موږ ته هم ښايي چې ګټه ترې واخلو.

**غږ مه لوړوه:**

داعي او بحث کوونکي ته پکار دی چې خپل غږ د اورېدونکو د اړتیا څخه زیات لوړ نکړي، په لوړ غږ سره هغوی په تکلیف کیږي او هم بحث کوونکی او مناقش د جومات د خطیب په څېر ندی چې ډېر خلک ورته ناست وي . د غږ لوړول دلیل ته کومه پیاوړتیا او قوت نه وربخښي بلکې زیاتره هغه څوک چې دلیل یې ضعیفه او کمزوری وي چغې وهي او خپله کمزورتیا د اواز په لوړولو پټوي خو له چا سره چې غښتلي دلایل وي د هغه فکر او توازن برابر او ارام وي.

تاسو سمندر ته ځیر شي، د سمندر په غاړه کې چې کوم قیمتي کاڼي نشته نو شور یې زیات دی او د سمندر ژوره برخه چې له جواهرو ډکه ده آرامه او چوپ ده
خو پداسې غږ هم خبرې مه کوه چې څوک یې هډو اوري نه بلکې منځ لاري غوره کړه، تجربې هم ثابته کړې ده چې له چغو پ رته په معتدل اواز خبر ې کول زړه ته ننوځي او د انسان د درناوي او وقار څرګندونه کوي.
ښه به وی چې د خبرو په بهیر کې دې غږ په یوه کچه نه وي بلکې د هر ځای مناسب غږ پورته او ټیټ کړي په یوه کچه خبرې کول او ریدونکو ته خوب ورولي او هم د غوښتنې سره خبرې ګړندی او کرارې کړي، خبرې باید ترتیب او د جملو تر منځ باید وقفه ورکړ ل شي تر څو اوریدونکی ښه پوه شي اود فکر کولو وخت ورکړل شي. پیغمبر علیه السلام به کله یوه خبره د هغې د ارزښت له امله درې ځلې هم تکراروله.
پای.